زمونږ دکلي پانې

زرین انګور

KHABR SH.93

زمونږ کلي پاڼې

د

زرین انګور

د لنډوکیسو څلورمه مجموعه

خپروونکی

دناهید کتاب خپرولوټولنه

۱۳۷۲ هـ ش کال

PROPERTY OF
ACKU
3977

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم :	زموږ د کلي پانې
لیکوال :	زرین انځور
خپرندوی :	د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه
د خپرونو نومره :	٤
د خپریدو نیټه :	دلو ۱۳۷۲ هـ ش (فبروري ۱۹۹٤ ع)
چاپ ځای :	لاهور
تیراژ :	۵۰۰ ټوکه .
کمپوزر :	سید حسین پاچا
د پښتې طرح :	هژبر شینواری
بیه :	۲۰ روپۍ

فهرست

عنوان	مخ
دسريزې پرځای	ا- ب
ړانده	۱
وينې اوپوښتنې	۷
مرسته	۱٤
تنده	۱۸
تاوان	۲٤
ورونه ويارونه	۲۸
درناوی	۳۳
زمونږ دکلي پانې	۳۸
ډيوې بليږې ډيوې سوځيږې	٤٦
په ۱۳۵۸ ام کې	۵۵
مانې	٦۳

الف

بسم الله الرحمن الرحيم

د سريزې پرځای

زرين انځور د پښتو ادب يوه ځليدونکې ځيره ده چې د پښتو ادب مينه وال به يې له ښکلي نوم سره خامخا اشنا وي . د انځور هنري او ادبي انځور لکه د بوډې تال له ډيرو رنګونو جوړ شوی دی . دی يو ډير ښه شعر پيژندونکی (د شعر کره کتونکی) هم دی او د پښتو ادب څيړونکی (محقق) هم . د افغانستان په مطبوعاتو کې يې (په افغانستان کې دننه او د هجرت په چاپيريال کې) يې شميره مقالې او ليکنې خپرې شوي دي . ډير کتابونه يې د چاپ په کالبو ښکلي کړي او د خپلې ګرانې ژبې پښتو درنې غيړې ته يې سپارلي دي .

په دې لنډه ليکنه کې د انځور د نورو ادبي کارونو او خدمتونو يادونه ، نه کوو . دلته د ده د لنډو کيسو يوه کوچنۍ يادونه کوو چې په لنډه کيسه ليکنه کې يې کامياب تجربې کړې دي .

انځور د پښتو لنډې کيسې د بهير د سر د لاروبر د ډلې لاروی دی چې د خپلو کيسو قهرمانان د پيښو په کړليچونو کې په بري سره د ښکلا پړاو ته رسوي .

دا سرونه دا رسمونه ، او شاړې کوڅې د ليکوال د لنډو کيسو دوې هغه مجموعې دي چې پخوا په کابل کې خپرې شوې دي .

تورې‌مې د ده د لنډو کيسو دريمه مجموعه ده چې د هجرت په چاپيريال پيښور کې خپره شوې ده .

زمونږ د کلي پانې د ليکوال د لنډو کيسو نوې مجموعه ده چې د هجرت په چاپيريال کې خپريږي . په دې مجموعه کې د ليکوال (۱۱) لنډې کيسې راغلې دي .

زمونږ د کلي پانې زمونږ د چاپيريال د ګلونو ، مخونو ، اوښکو او زخمونو پانې دي چې شيبه په شيبه د باروتو او پولادو ترخه سيلۍ پرې الوزي .

انځور د يوه ماهر کف شناس په ځير د دې هرې پانې د ورغوي کرښې کتلې او د سوځيدلو نصيبونو کيسې يې په خپلو لنډو کيسو کې ژوندۍ ساتلې دي .

د ناهيد د کتاب خپرولو مؤسسه د پښتو لنډې کيسې د پياوړي ليکوال اسدالله غضنفر (سارې بادونه) د پښتو د نازکخيالې او دردمنې شاعرې پروين ملال (تبجنه سپوږمۍ) ، د پښتو لنډې کيسې د زلمي ليکوال ايمل پسرلي د (ځلورمه لار) نه وروسته ځلورم کتاب (زمونږ د کلي پانې) ته د زړه وينې ورکوي او د پښتو غيرې ته يې سپاري .

مونږ د پښتو د لنډې کيسې مينه والو ته او ګران زرين انځور ته چې‌له مونږ نه په ملکونو ملکونو ، غرونو غرونو او سيندونو سيندونو لرې د خپل زخمي وطن په ياد د هجرت شپې ورځې تيروي د کتاب د خپريدو مبارکي وايو .

« زمونږ د کلي پانې » دې شنې او تاندې وي . لوی خدای دې د دې سوځيدلو پاڼو په سوو ورغوو کې د بخت شنې او ګلورينې کرښې وغځوي .

په ټوله مينه
د ناهيد کتاب خپرولو مؤسسه
پيښور ، ۱۳۷۲/۱۱/۲۰

پرانده

توپك يې اوزې ته کړ . يو ځل بيا يې په ګردنۍ د ګولیو کتار له نظره تیر کړ او دا ځل هم لکه د پخوا په څیر دومره ډاډه شو چې زیات ډاډ يې غرور هم ور زیات کړ . په زړه کې يې ورتیر شول :

– بس يې دی !

توپك يې له اوزې ښکته کړ او بیا يې هم په زړه کې ور وګرځیدل :

– چندان شی خو نه دی ، پیسې يې ډېرې پرې راکړې .

پیسې يې بیا هم له جیبه را واخیستلې . يو ځل بیا يې وشمیرلې . بیخې پوره وې ، او د جلات خان شونډې خوږې شوې ، خوله يې خوږه شوه او لارې يې تیرې کړې . پیسې يې په کوم ځای کې ، ځای په ځای کړې . هغه خبره وریاده شوه :

- نیمې یې وروسته ، چې هغه جنځیر مردار کړې ...

بیایې د ګردنې کتار ګولۍ له نظره تیرې کړې او سترګې یې نورې هم سرې شوې . همدا نن به نورې هم راپوره کړم . ټوپک یې بیرته اوږې ته کړ او په بیړه روان شو . بیړه یې له یوې شیبې بلې ته زیاتیدله . هره شیبه به یې پاس اسمان ته وکتل :

- هسې نه چې ناوخته شي !

او جلات خان به خپله پښه نوره هم تیزه کړه . هغه پوهیده چې نن باید د هغه حساب کتاب ورختم کړم . نن به د هغه د ژوند وروستۍ ورځ وي .

جلات خان ته یو ځل په زړه کې ور وګرځیدل :

- چې دا د دوی به څه معامله وي ؟!

له داسې سوچ څخه یې هم بدې راغلل . په خپل ځان یې بد وویل . په خپل زړه یې بد وویل . دا لومړی ځل و چې داسې ناګومانه سوچ ورغلی و . دې خبرې په ده پورې هیڅ اړه نه لرله . پخوا هیڅکله هم داسې سوچ په سر کې نه و ورګرځیدلی . د ده یې له معاملو سره کار نه و ، د ده یې له دلیلونو سره کار نه و . د ده یې له دې سره کار نه و چې څوک ولې مري ؟ څوک ولې نه مري ؟ څوک ولې بل وژني ؟ څوک ولې د بل له لاسه وژل کیږي ؟ جلات خان په دغو ولې ... ولې پسې نه ګرځید . د هغه کار له پیسو سره و . بیا په زړه کې ورتیر شول :

- هسې نه چې ناوخته شي !

پښه یې نوره هم تیزه کړه . بیایې پاس اسمان ته وکتل :

- نه نه ! لا وخت شته دی .

خو په خپله بیړه کې یې کمی رانه وښت . ټوپک یې په اوږه پورې ښه ټینګ کړ . لکه په خپله اوږه چې شکي شوی وي . بیا یې هم را-

ټینګ کړ ، او دا ځل بیا یو ناڅاپه یوه بله پوښتنه ورمخې ته شوه :

– دغه بدبخته خو زه هیڅ پیژنم هم نه ، یواځې یو ځل دوه مې له ورایه لیدلی دی . لیدلی مې څه دی خو را ښودلی یې دی ، همدغه د نن ساعت له پاره یې راښودلی دی . د همدې له پاره مې لیدلی چې ویې وژنم ... چې دا به څوك وي ، چې دا به څنګه سړی وي .

بیرته په خپل فکر پښیمانه شو :

– زما یې په دې څه ؟ هر څوك چې وي ؟ هر څنګه چې وي ؟!

هغه خبره بیا وریاده شوله :

– نیمې یې وروسته چې هغه خنځیر مردار کړې !

ټوپك یې نور هم اوزی ته راټینګ کړ . لکه په ټوپك چې هم شکي وي چې ګوندې له اوزې یې ونه ښوییزي . خپله پښه یې نوره هم تیزه کړه . اوس له کلي سره ډیر ورانډې شوی و . هغه ځای ته نزدې کیده چې ده باید ټوپك په کې چلولی وای . هغه ځای ته چې ده باید د یو چا ژوند په کې ختم کړی وای .

جلات خان دا ځل د خپل ټوپك د ګولیو دغه نوی میلمه هیڅ نه پیژانده ؛ هسې خو یې پخواني هم یا ډیر پیژندلي او یا لږ ، دې کار په ده پورې اړه نه لرله ، خو دا ځل یې څه نا اشنا خیالونه ذهن ته ورتلل :

– چې دا به څوك وي ؟

– چې دا به څنګه سړی وي ؟

– چې دا به ولې وژني ؟

– چې دا به یې څه معامله ترمنځه وي ؟

دا نا اشنا خیالونه به هم ده ډیر زر له ځانه وشړل ، خو هغه به بیا بیا راغلل . ده به هرځل شړل . دې شړلو هم ده ته خوند ورکاوه . د یو څه

شړل هم خوند لري . يو ډول زور غواړي . يو ډول غرور غواړي . توپك ته يې کاږه شان وروکتل ، هم يې ستوګې خوږې شوې او هم شونډې .

جلات خان لا هماغسې په بيړه روان و چې هغه د کلي د ملا د اذان غږ واورېد . د اذان غږ له ليرې هم تت تت د هغه غوږونو ته راورسيد او د ده شونډې پرله پسې وخوځيدې :

- جلّ جلاله ... جلّ جلاله ...

لا په بيړه روان و . د اذان تت غږ لا هماغسې د هغه غوږونو ته ورسيده ، خو هغه داسې په بيړه روان و چې هر قدم به نور هم ترې ليرې کيده . بيا يې په زړه کې ور وګوځيدل :

- اودس خو مې شته .

يو ځل بيا يې پاس اسمان ته وکتل . د مابنام خړه راخوره شوې وه . په زړه کې يې ور وګوځيدل :

- چې ناوخته نه شي !

بيا يې د اسمان څنډو ته وکتل ، لا بيخي تياره نه وه :

- نه نه ، لا وخت شته دی .

د اذان تت غږ نور هم تت شوی و . جلات خان خپله پښه نوره هم تيزه کړه :

- چې له لاسه مې ونه وځي ...

خو لا په شونډو کې يې دغه خبره نه وه اوښتې راوښتې چې بيا په زړه کې ور وګوځيدل :

- چې له کوم چا مې پوښتنه کړې وای چې دی په څه معامله کې وژني ، چې څه بدي به يې ورسره وي .

خو زر بيرته پښيمانه شو :

- په ما يې څه ؟

د ګردنۍ ګولۍ يې بيا له نظره تيرې کړې . توپک يې هم ډک کړی و . يوازې د نښې نيول او د ماشې راکښل پاتې وو . هغه نو د ده د ستر ګو او د ده د ګوتو کار و . هغه په خپلو ستر ګو او خپلو ګوتو سره باوري و .

په زړه کې يې ورتير شول :

– په لږه شيبه کې به يې کار وکړم .

د توپک ماشې ته يې وکتل :

– دوه يې هم بس دي ...

خو په زړه کې يې غرور غزوني وکړې :

– څه څه ؟ يو يې هم بسّ دی ؟

د کلي د ملا د اذان وروستۍ برخه يې بيخي تته واوريده ، خو پوه شو چې اذان پای ته ورسيد . بيا يې شونډې وخوځيدې :

– جلّ جلاله ... جلّ جلاله .

لا هماغسې په بيړه روان و . په ذهن کې ور وګرځيدل :

– لمونځ ؟

بيا يې خيال شو :

– چې ناوخته نه شي !

او هغه نور هم حيران شو . لمونځ قضا کيده . د ماښام د لمانځه شيبې خو هسې هم ډيرې لنډې وې . خو هلته هغه کار ، چې په هغه کار کې يې ډيل رانه شي . پاس آسمان ته يې وکتل . د آسمان لمنې د غوړو له څنډو سره لږ پريواته ته سور بخنې وې .

او خدای زده ده ته ولې ټولې هغه ورځې مخې ته ودريدې چې تراوسه يې ټينې کړې وې ، ولې ؟ څنګه ؟ له دې پوښتنو سره يې کار نه و ؟ د ده له پيسو سره کار و ، هغه سوچ هم دی ونه ځوراوه ، لايې غرور

ګامونه ورګړندي کړل او ښه شيبه ګړندی روان و چې يو ځل يې پښې سستې شوې . لومړی ورو شو او بيا په ځای ودريده . ښه ډيره شيبه په دې سوچ کې و چې لمونځ وکړم که لا پرې شم ؟ يو ځل يې په زړه کې ور وګرځيدل :

– لمونځ قضا کيږي .

د آسمان څښتو ته يې وکتل :

– ناوخته دی ، خو چې له لاسه مې ونه وځي .

بيا يې په زړه کې ور وګرځيدل :

– نه نه ، لمونځ قضا کيږي . هغه به بيا ګورو ، ګورو به يې ، له لاسه به مې ...

خپل زوړ او خيون څادر يې مخې ته وغوړاوو . ټوپک يې مخې ته کيښود او په لمانځه ودريد .

لمونځ يې په بيړه بيړه پای ته ورساوه . ټوپک يې په اوږه کې راټينګ کړ . د خپلېو پوندې يې وروستې او دا ځل يې د بيړې مزل دومره بيړنی کړ لکه منډه چې وهي .

* * *

او هغه کټ کټ په خندا شو :

– جلاتيه ، ايله بيله چې توره دې وکړه ، درواخله !

د هغه ستړګې نورې هم سړې شوې او نړۍ پيکه خندا يې ورغبرګه کړه :

– غږ ستا او غوږ زما .

او بيا دوارې په خندا شول .

پيښور – بورډ

۲۸ – ۱۱ – ۱۳٦۹

ويني او پوښتنې

تورن ګيورګيان ډودکا بوتل ښه وځنځاوه . د بوتل وروستي څاڅکي يې هم په خپل ګلاس کې وروڅڅول او بيا يې ګلاس په خپله لويه خوله کې په يوه منډه خالي کړ . هغه به تل دودکا دغه وروستی ګلاس په پوره علاقمندۍ په يوه غړپ تشاوه . تش بوتل يې په خپلو درنو عسکري بوټانو په زمکه ورغړاوه او له ځايه راپورته شو . د سوو سترګو رنګ يې نور هم سور شوی و . ايګور راتنيخوف ته يې ورغږ کړ:

– راوباسئ ، هغه اشرار بچه !

ايګور لږ ځنډنی شو ، يو خوا بې وکتل ، خه فکر په سر کې وروګرځيد .

تورن ګيورګيان بيا ورغږ کړ :

– تاته وايم . هغه اشرار بچه راوباسه ! د جزا وخت يې شو .

دا ځل يې غږ نور هم پسې لوړ او قهرجن کړ :

– سر تيري ملګري هم ټول راوباسئ ، د تعليم ميدان ته .

او د ملګرو په کلمه کې يې هيڅ صميميت نه ونغښتی . هغه هم يواځې د تعامل او تشريفاتو له مخې دغه کلمه ادا کړه .

ايګور راتنيخوف سلامي ووهله او په ګړندیو ګامونو روان شو . تورن هم په بيړه د تعليم ميدان ته ور روان شو . دا د څه بل ډول تعليم ميدان و . دلته داسې زده کړه کيدله چې څنګه د غوښې له زړه د تيزې او اوسپنې زړه جوړ شي ، څنګه د يو چا وينې لکه د شرابو په څير په مينه وڅکلې شي ، زړونه څنګه کلک شي ، عاطفه څنګه ووژله شي ؟

په لږه شيبه کې د تعليم ميدان له سر تيرو ډک شو ، د ټولو پام يو خواته واوښت . ايګور راتنيخوف يو کوچنی هلک له لاسه نيولی و او د تعليم د ميدان په لور يې له ځانه سره راروان کړی و . تورن ګيورګيان ور ورانديږ شو او هلک يې له مټه راونيو ، داسې يې د هغه مټ د لاس په پنجو کې راونيو چې د هغه شليدلی لستونی نور هم وشليد . د ميدان په مينځ کې يې ودراوه . غمی د ديارلسو څوارلسو کلونو و . خيونې او زړې جامې يې څو ځايه پيوند شوې او بيا بيا خيرې شوې وې ، يوه زړه تاري خولۍ يې پر سر وه . هوار لړزيده . تورن غمي ته اشاره وکړه :

– پرون مو ونيو .

بيا يې غږ نور هم لوړ او قهرجن کړ :

– دا سپی هم اشرار دی ...

خپلو سر تيرو ته يې مخ کړ :

– ټول اشرار دي ... له څيړ مې .

غمی یې په پرونیو عملیاتو کې په یو لیرې کلي کې نیولی و . ویل کیدل چې هغه کلی د مجاهدینو مرکز و . څو ځله یې بمباری پرې وکړې . بیا یې برید پرې وکړ . له هغه ځایه لاله مخکې ټول کوچیدلي وو ، یوازې درې ځلور کوره پاتې وو ، هغه هم څو بوډۍ او څو ماشومان . تر ټولو مشر په کې غمی و . هغه یې له ځانه سره راروان کړ او دا دی د اشوار په نوم یې اوس مخې ته ولاړ و . دتورن غږ یې راپورته شو :

– ټول اشوار دي ، ټول د مرګ دي .

هلك ته ورنزدې شو . غمی همداسې لړزیده . لکه سختې تبې چې نیولی وي .

تورن هغه ته نېه ډیر ورنزدې شو ، خو بیا څه خیال ورغی ، بیرته راستون شو . په زوره یې غږ کړ :

– ملګری اولیګ ستانیك !

او د سر تیرو په منځ کې یو ښایسته ځلمی له کتاره یو څه رامخکې شو :

ملګری قوماندان ! چمتو یم !

خو د اولیګ ستانیك په غږ کې چندانې هیبت او پرتم نه و پروت . غږ یې تت شانته و . درې میاشتې کیدلې چې هغه له روسیې نه د سر-تیرې د دورې د تیرولو له پاره افغانستان ته رالیږل شوی و او دلته یې د ګیورګیان غونډ ته رالیږی و . اولیګ د مور او پلار یو زوی و ، یوه کښره خور یې هم وه او په هغه ورځ چې دی یې دې خواته رالیږه ، ټولو په سرو سترګ ژړل . اولیګ عجیبه زلمی و . له وینې سره یې عجیبه حساسیت درلود . هغه چې به وینې ولیدې رنګ به یې تك ژیړ شو ، لکه چې دا وینې له هغه تویې شوې وي . هغه له وینې ډاریده . د وینې په لیدو به یوه لړزه پرې راغله . اوس هم چې قوماندان یې په هغه

غږ وکړ ، د ده په غږ کې هماغسې څه لړزا محسوسه شوه . تورن ګورګیان بیا وویل :

- دا اشرار ګوري ؟

اولیګ ځواب ورکړ :

- هو ګورم یې !

خو په زړه کې یې تیر شول :

- لا خو بیخي ماشوم دی .

د قوماندان غږ بیا اوچت شو :

- را وړاندې شه .

اولیګ وروړاندې شو .

غمی په دې وخت کې پر ځمکه ناست و . نور یې نو د دریدلو توان په ځان کې نه لید . هغه به د روسي قوماندان او نورو سر تیرو خواته حیران کتل . څو ځله پخوا هم روسان د هغوی کلي ته د تلاشۍ له پاره ورغلي وو . غمی هم د کلي له نورو هلکانو سره له غونډۍ ها څوا اوښتی و . دا ځل یې مور له کټ نه د جګیدو نه وه ، ځکه په کلي کې پاتې شو . هغه ته خپل همزولي وریاد شول ، هغوی چې اوس ټول له غونډۍ ها خوا اوښتي وو . په زړه کې یې سخت ارمان سر راپورته کړ :

- کاشکې زه هم هلته وای ، کاشکی له غونډۍ ها خوا وای !

او د هغه شونډې وخوځیدې . د تورن ګورګیان غږ د هغه په ارمان هم خاورې ور واړولې :

- تر وژلو یې په برچو وهه !

د قوماندان له غږ نه هم دا ځل اور ، وریده . غمی همدومره پوهیده چې ماته سخت په قهر دي ، خو په نورو خبرو یې نه پوهیده . هغه

سخت ډاریدلی و . کله هم په ژوند کې دومره نه و ډار شوی . هغه کله هم داسې ورځ نه وه لیدلې . هماغسې هوار لړزیده . اولیګ هغه ته ورنږدې شو . لږه شیبه یې د قوماندان د حکم په اجرا کې ځند وکړ . هغه ته ځان ډیر وحشي ښکاریده او قوماندان ورته له ځانه هم زیات وحشي . اولیګ غمې ته نور هم ورنږدې شو . غمی هم له ځایه پورته شو . هماغسې لړزیده . تورن ګیورګیان بیا چیغه کړه :

– وهه یې ، په برچه یې وهه !

او خپل غږ یې نور هم تیز کړ :

– تر مرګه ... وهه یې !

د اولیګ لاس ګوزار ته نه جوړیده . د هغه زړه ټوپونه وهل . غمی هم هماغسې لړزیده . اولیګ برچه راواخیستله . لایې هم لاس ګوزار ته نه جوړیده ، د قوماندان غږونو یې بیا په غوږونو کې انګازې جوړې کړې :

– وهه یې ... تر مرګه ...

او په هغه سر وګرځید . انګازې زیاتې شوې :

– وهه یې ... وهه یې ...

اولیګ په برچه د هلک په ټټر ګوزار وکړ . غمې چیغې کړې او اولیګ یې له لاسونو ونیو . هلک چیغې وهلې او د اولیګ لاس بل ګوزار ته نه جوړیده . قوماندان چیغې جوړې کړې :

– د خره زویه ! په څه چرت کې یې ؟

نود یې نو ځند ونه کړ . رامنډه یې کړه او د اولیګ له لاسه یې برچه راواخیستله :

– زده یې کړئ ! داسې وهئ !

بیا یې غږ انګازې جوړې کړې :

- سبه یې وګورئ !

د غمي پرمخ یې د برچې څو پړله پسې ګوزارونه وکړل . د غمي نرۍ چیغې د قوماندان د وحشت په غږونو کې ورو ورو تتې کیدلې . هلك پر ځمکه را پریووت . هغه چې څنګه پر زمکه را پریووت نو تورن ګیورګیان لکه وحشي ځناور پر هغه ورښکته شو او د سترګو په رپ کې یې هلك حلال کړ . برچه یې د میدان مینځ ته ورګوزار کړه او غږ یې کړ :

- زده یې کړئ . داسې یې زده کړئ ...

او د هلك وینه په لوی تعلیمي میدان کې داسې په یوځای راټوله شوه لکه د زمکې د ګوتې تر ټولو تك سور غمی چې جوړ وي .

* * *

ایګور راتنیخوف له خپل ځایه پورته شو . رنګ یې نور هم سور شوی و :

- د محکمې ښاغلی رئیس ، دا هرڅه رښتیا دي . دایې یوازې یوه نمونه وه . دا هرڅه چې لیکل شوي ، څه انسانوي خبره نه ده . دا هرڅه ما په خپلو سترګو لیدلي . هرچا چې داسې څه لیکلي ، رښتیا یې لیکلي دي . تورن مورټ ته همدغه شیان رازده کول . لکه د واورې غوندې بې حسه انسان و . مورټ ته یې هم د همدغې بې حسۍ زده کړه راکوله .

د محکمې رئیس او ټولو قاضیانو سرونه ښکته کړي وو . د محکمې په ستر سالون کې سخته چوپتیا خپره وه . عجیبه وه ، د محکمې رئیس ژړل . په غلي او لرزیدلي اواز یې وویل :

- مورټ ټول شرمیږو ... زمورټ عسکرو څه نه دي کړي ؟!

اواز یې هره شیبه نور هم ژړه غونی کیده . د دې پیښې اوریدلو پر هغه څه داسې کانه کړې وه . بیا یې لږزیدلی غږ واوریدل شو :

- خو په داسې حال کې څوك څه پریکړه کولی شي !

ایګور راتنیخوف له سالون څخه ورغږ کړ :

- لا خو تورن ګیورګیان آزاد ګرځي !

او بیا یې خپل غږ له نور زور هم ورکړ :

- دا ولې ؟

او په محکمې کې ناست ټول کسان له ځایه پورته شول . د محکمې په ټول تالار کې انګازې جوړې شوې :

- اخر ولې ... ولې ... ولې ؟!

پیښور ، کچه ګړۍ
۱ - ۱۲ - ۱۳۶۹

مرسته

دايي دو لسمه ورځ وه چې د لوبې دروازې مخې ته ولاړه وه . هره ورځ به د دروازې په خوله کې څوکيدارانو ورته ويل :

- خدای زده که راشي ، خو څه تر يو وخته هلته ودريږه . ګوره که راشي ، هغې به خپل ماشوم لمسی له لاسه ونيو ، اخوا به له نورو منتظرو کسانو نه يو ارخ ته کښيناسته . تيرې يوولس ورځې يې د ماسپښين تر آذانه هلته انتظار کړی و او بيا به په مات زړه بيرته ستنه شوې وه .

نن هم هغه له دروازې څخه جلا يو ارخ ته ناسته وه . يوځل خو له خپله ځايه پورته شوه ، زما د موټر خواته راغله ، زه په سيټ کې ناست وم ، د خپلې ډډې شيشه مې ښکته کړې وه . زه هم منتظر وم ، خو د

بوډۍ په څير منتظر نه ، زه د قوماندان اکبر د دا ټسن درېور يم او هغه مې لږه شيبه وړاندې د همدې لويې دروازې مخې ته ښکته کړ ، تر هغه چې دی بيرته راوځي ، زه به ورته ولاړ يم ، خو بوډۍ بيا د يو بل څه ، د يو بل چا په انتظار وه ، هغه زما خواته رانږدې شوه :

بچيه په خط پوهيږې ؟

ما ځواب ورکړ :

- هو ادې .

په خپلو ريږديدلو ګوتو يې د تور پرونې له پيڅکې يو کاغذ را خلاص کړ :

- د ګلابو په زوی مې ليکلی دی ، چې څنګه به يې ليکلی وي ؟ ته خو يې لږ وګوره .

ما کاغذ را واخيست . عريضه يې د تنظيم د مشر په عنوان ليکلې وه . زوی يې مجاهد و او دوه کاله وړاندې په لوګر کې شهيد شوی و . له زوی نه يې يوه کونډه او درې بچي پاتې وو . په عريضه کې يې د خپل زيات غربت يادونه کړې وه ، ليکلي يې وو چې په دوه کاله کې د هغه شهيد مجاهد د کورنۍ پوښتنه چا ونه کړه ، د شهيد د کورنۍ په نوم د دوه کلنۍ تنخوا ، يوې خيمې او څه برستنو غوښتنه يې کړې وه . د عريضې په پای کې يې د نامه له ليکلو وپوهيدم چې د بوډۍ نوم زليخا ښدي . ما هغې ته وويل :

- ادې عريضه يې ښه سمه ليکلې ده .

ما هغې تندی وغوړېده :

ته له په خوله دې برکت شه بچی ، خو خدای زده چې دا به کله راځي ؟

ما ورته وويل :

- ورته کښينه خدای (ج) مهربانه دی .

هغې په نا اميدۍ وويل :

- په چا دې يې خدای نه راولي ، ډيره وګرځيدم ، ډيرو ته مې عريضې وکړې خو ... .

خبره يې لږ وژووله :

- اخر چا راته وويل چې په ټولو کې سخي سړی همدا دی ، ما ويل ... بيا يې له لږ ځنډ وروسته وويل :

- دا مې دو لسمه ورځ ده چې راځم ، چې خه پرې شوي ... .

مونږ لا په همدغو خبرو کې وو چې ګڼه ګونه شوه . لويه دروازه په منډه خلاصه شوه او څلور پنځه موټرې سر په سر په دروازه ورننوتې . په ټولو ناسټو کسانو کې سا وغړيده . ما بوډۍ ته وويل :

- راغې !

او هغه داسې خوشحاله شوه لکه له سنګره چې د زوی د راتګ زيری پرې شوی وي . عريضه يې زما له لاسه ټکوهله او روانه شوه . ما کتل چې ډيره شيبه د لويې دروازې مخې ته ولاړه وه . ښکاريدل چې ټولو ته زاری کوي چې دننه يې پريږدي . ماشوم لمسی يې هم هماغسې له لاسه کلک نيولی و . خه ډيره موده وروسته يې هغه دننه پريښوده .

زما انتظار ډير زيات اوزد شو . کله هم قوماندان اکبر دومره نه و معطل شوی . ما له ځانه سره فکر وکړ ، ښايي کومه ډيره مهمه خبره وي . له يوه ، يونيم ساعت وروسته مې وليدل چې بوډۍ له لويې دروازې څخه په بيړه راووتله ، زما د تصور خلاف ، هغه ډيره زياته خوشحاله وه . له ډيرې خوشحالۍ يې ګامونه داسې ګړندي وو چې لمسی يې هم نه شو پسې رارسيدلی ، هغه يې څو څو ځله په ځان پسې

راښکود ، زما د موټر له ارخه چې ټيريدله ، ما پرې غږ کړ :

– ادې څه يې ويل ؟ ډيره خوشحاله يې ؟

هغه ماته راوګرځيده ، کاغذ يې لا په لاس کې نيولی و ، هغه يې راکړ او ويې ويل :

– خدای دې اجر ورکړي ، امر يې راکړ ... .

بيا يې په بيړه رانه وپوښتل ؟

– چې څه به يې ليکلي وي ؟ وايي خزانه دار نشته ، سبا راشه ... د خزانه دار تلفظ ښی هم څه ګډوډ شانته وکړ . ما لا پر عريضه احکام نه وو لوستي چې هغې بيا رانه وپوښتل :

– چې څه به يې ليکلي وي ؟

زما له لاسه کاغذ ښويه شو ، تر عريضې لاندې ليکل شوي وو :

– څلويښت روپۍ نقدي مرسته دې ورسره وشي .

پيښور

۱۳۷۰ / ۱۱ / ۱۰

تنده

نن يې لکه چې بهر تلو ته هيڅ زړه نه کيده . په ډيره خواري يې هغه رابهر کړ ، لکه چې په يو چا کې پرې واچوي او په زور يې له کوره راوباسي . همداسې په ديکو ديکو يې رابهر کړ ، خو وروسته بيا ښه شو ، ښه سم مزل يې پيل کړ .

څو ورځې کيدلې چې همداسې څه کانه پرې شوې وه . ښايې د ډيرې ګرمۍ له امله به وه چې بهر وتلو او ګرځيدلو ته يې زړه نه کيده . هوا دومره ګرمه شوې وه چې نږدې و د ده زړه وروچوي . کله هم مزل او ګرمۍ دومره نه و ستړی کړی .

نن يې په نه زړه مزل پيل کړ ، خو مجبوري وه ، وروسته بيرنۍ شو . يوه پيره خو يې په ښه شان تر سره کړه . سورلۍ هم ډيرې وې . دومره

ګنه ګونډه وه چې دی يې ډير تنګ کړ او دويمې پيرۍ ته يې چندانې زړه نه و ، خو ده څه کولای شول ؟ د هغه کونجې د بل چا په لاس کې وه . د هغه مزل د بل چا په لاس کې و او خپله يې هيڅ نه شو ويلای . کله کله به يې په خپل دوامدار غږ کې څه بدلون راوست او لکه چې کوم فرياد کوي . ستونی به يې خپه شو ، لکه چې ژاړي . ډريور به يې ګپر وربدل کړ ، پښه به يې پرې ټينګه کړه ، او هغه به داسې احساس کړه لکه چې څوک يې پر مړۍ پښه ورټينګوي ، خو هغه څه کولی شول ؟ هغه په نه زړه همداسې روان و .

دويمه پيړه به يې نيمايي ته رسولې وه چې سخت تږی شو ، خپل غږ يې بدل رابدل کړ او ډريور به خپلې پښې ته د همدې له پاره زور ورکاوه چې د هغه له ستونې د هغه خپه شوې غږونه راپورته نه شي ، خو هغه نور د تندې توان نه لاره . خپل خپه شوې غږونه يې دومره غمګين او اوچت کړل چې په ده کې ټولې ناستې سورلۍ يې په فرياد پوی شوې ، ډريور مجبور شو چې يو ځای کې يې هغه ودراوه . کلينر په بيړه له هغه کوز شو ، زړه ګيلنه يې له اوبو ډکه کړه . د هغه سر يې پورته کړ . خوله يې وربيرته کړه او ډکه ګيلنه يې د هغه په خوله کې ورخالي کړه ، له خولې يې ، له زياتې ګرمۍ بخار خوت او دغه بخار په يوه ګيلنه سور نه شو ، بله يې هم د هغه په خوله کې ورخالي کړه ، بخار بيا هم ونه درېد . د هغه تنده بيا هم ماته نه شوه ، خو د هغه خوله يې بيړته وروټړله او دی بيا روان شو . د ګيلنې اوبه دومره تودې وې لکه د هغه په خوله کې يې چې جوش اوبه ورخالي کړې وې . نه يواځې دا چې د هغه تنده ماته نه شوه ، د هغه زړه دغو اوبو نور هم وجوشاوه . خدای خبر څنګه هغه ته يو ناڅاپه پخواني وختونه ورياد شول .

د ننګرهار او کابل ترمنځ په پراخ سړك روان و ، ماهیپر ته ورسید ، عجیبه کزلیچونه وو . ډیره کړکیچنه لاره وه ، خو ده ته به هلته هم مزل سخت خوند ورکاوه ، ماهیپر ته به هم داسې خوت لکه په هواره لاره چې روان وي او بیا به د ماهیپر په مینځ کې ودریده . نورې موټرې به هم هلته ولاړې وې . یوه شیبه به سورلۍ هم د ده له اوزو کوزې شوې ، کلینر به د هغه سر ورپورته کړ . په مزه مزه به یې د هغه خوله خلاصه کړه او په منډه به یې د ماهیپر له یخو اوبو ډکه کړه ، په دې اوبو به د هغه زړه یخ شو . بخار به کښیناست او هغه به یو شکر وکړ ، داسې یخې اوبه لکه واوره او هغه به بیا شکر وکړ .

- په لږ څه کې یې بچ کړ .
- نزدې یې تر تایرونو لاندې کړی و .
- خدای (ج) فضل وکړ که نه ...

د ډریور ناترسه بریك او د سورلیو دې غالمغال د هغه د سوچونو دنیا ړنګه کړه . داسې چې به کله هم ډریور وارخطا بریك ونیو نو هغه به یې د سوچونو له دنیا رابهر کړ او ده به بیا غمجن مزل شروع کړ .

په دریمه پیړه کې هغه نور هم ستړی شو . یوه بله سورلۍ چې به هم هغه ته ورجګه شوه نو لکه یو خروار پیتې چې پرې وربار کړې . دا ځل یې غږ نور هم خپه او غمجن شوی و . ډریور چې به هرځومره خپله پسنه ورتینګه کړه ، د ده د مزله مزه نه وه پاتې . د ده انډیوالان به په لاره کې یو یو له ده مخکې کیدل ، د ده له څنګه چې به یو یو تیر شول نو د ده ستوګې به د بینزونو پر وروستۍ لویه شیبه لیکونو ته واوښتې :

- افغان پیما

- یی وطن شهزاده
- کابل کاروان
- ننگرهار کاروان

ځینو یې خپلې شیشې پاکې مینځلې وې او ځینو یې د هغو پخوانیو لیکونو پرځای د شا پر لویه شیشه نوې لیکنې کړې وې خو زیاتره یې له هماغو پخوانیو لیکونو سره ګرځیدل راګرځیدل ځینې دغه بینزونه خرڅ شوي وو او اوس یې رنګونه هم بدل شوي وو او د شا پر لویه شیشیه لیکونه هم ، ده به هغه پخواني اشنا بینزونه هم په سخته پیژندل .

یو یو به د ده له څنګه تیریدل ، د ده سترګې چې به د موټرو په وروستۍ شیشه ونښتې نو په زړه کې به یې تیر شول :

- دی هم راغلی .
- دی هم رامسافر شو .
- دی هم لکه - زما په څیر ...

او په زړه کې به لږ شان خجالت شو چې آخر دی ولې سم مزل نه شي کولی ؟ دی ولې له خپلو هغو نورو نه وروسته پاتې دی ؟ خو خپله وسه یې کوله او له وسه بهر یې نو نور څه کړی وای ؟

دریمه پیړه یې هم تر سره کړه او خلورمې پیړۍ ته یې راروان کړ . دا ځل نو یې مزل ته بیخي ملا ماته وه ، بیا هم په نه زړه راروان شو ، خو خوشحاله په دې و چې په دې پیړه کې سورلۍ لږې وې . د ده ولې هم لږ شان سپک وو ، خو ګرمې نوره هم زیاته شوې وه او د ده تنده هم شیبه په شیبه زیاتیدله . ده ته په زړه کې ورتیر شول :

- دا ځل خو ښه دی په لاره کې یې ډیر ونه درولم .

ده ته به په لاره کې خندونه ، په زور ودرول او تلاشۍ ډیر زور

ورکاوه . هر څوك به چې د څه لټون او تلاشۍ په نیت ده ته ورپورته شول ، لکه د ده په زړه چې پسنې زدي او له بده شامته په ده به دا کار ډیر کیده ، ډیر به درول کیده ، ډیر به ځوروول کیده .

دی چې لا په خپل وطن کې و هم یې بې ځایه لټونونه او تلاشۍ بدي شوې . هغه ورځ وریاده شوه چې په ماهیپر کې روسانو درولی و او د خوراك هرڅه چې په کې وو ، له ده یې کوز کړي وو ، د سورلیو جیبونه یې هم ټول تش کړي وو او د ده په هماغه ورځ له هغوی نه سخته کرکه شوې وه او دغه کرکه د هغه په زړه کې په یوه داسې غوټه بدله شوې وه ، چې لا تراوسه هم هماغسې غوټه پاتې وه ، د هماغې غوټې په فکر کې و ، چې ډریور د اوبو له یوې ویالې سره دی ودراوه . هغه اوس ایله پوه شو چې څومره ستړی شوی او تږی شوی دی ؟

بیا یې د ده په خوله کې د اوبو دوه ګیلنۍ ورتشې کړې او بیا یې هم ده ته هیڅ خوند ورنه کړ . له خولې راوتونکی بخار یې نور هم زیات شو . ګیډه یې په اوبو ډکه شوه خو یخه نه شوه . هغه بیا هم په نه زړه روان شو ، خو خدای خبر بیا څنګه په فکر کې لاړ :

یوه ورځ د شمالي په لویه لاره روان و ، اوړی و ، خو هوا داسې ښکلې وه ، لکه د یو همیشه سپرلیه سیمې پسرلی ، دی یې هم د سړك یو اړخ ته ودراوه . ترڅنګه یې نرۍ اوبه بهیدلې . ټولو سورلیو خپل مخونه یخ کړل . یو دوه دوه لپې اوبه یې وڅکلې او د ده هم هغو یخو اوبو ته زړه وشو ، کلینر یو ګیلن اوبه راوړې . نیمې یې د ده په خوله کې وروړولې او پاتې نیمې یې په یو شړك د ده پر مخ وروړولې ، د ده ټول وجود له یخه ورپیده ، او هغه نور په ځان پوه نه شو :

- یا الله خیر !!

- خیر ... الله ... خیر ...

او د سورلیو له همدغو کړیکو سره دی له یو لوی تور عسکري ګاډي سره مخامخ جنګیدلی و . لکه چې غلام صابر استاذ هم د خپل بینز په څیر همدغو سوچونو له ځانه سره بیولی و .

پیښور ، بورډ
۱۳۷۰ / ٤ / ۱۲

PROPERTY
ACKU
3977

تاوان

په پوره دري لکه افغانيو سره جوړ شول . يوځل بيا يې د ټينګار په توګه ورته وويل :

- ګوره خبره په يوازې زما او ستا په منځ کې وي ، پوه شوې خان ولي ؟

خان ولي په غوړه مالۍ ورته وويل :

- بس همدا زما او ستا په منځ کې ده ، دريم ګړی به رانه خبر نه شي .

شهباز ، دا ځل د تهديد په ښه ورته وويل :

- خان ولي بيا به « ما » له هم ښه نه وي او « تا » له هم .

او وروستی برخه يې ، يوځل بيا په يو څه جديت تکرار کړه :

- ... او « تا » له هم !

خان ولي د غوړه مالۍ غوړ نور هم زيات کړل :

- شهباز خانه که دې باور نه کیږي ، نو قسم به درته وکم . ته په خدای ...

شهباز د خان ولي خبره بشپړیدو ته پرې نه ښوده .

- او ګوره ! بیګاه له به په تیاره کې راځې ، هلته به زما سره ځې او په کوم ځای کې به لیرې راته دریږي .

او بیا یې خبره یو څه د تکبر له غږ سره یوځای کړه :

- بیا نو زه پوه شه او هغه !

تیاره چې ښه سمه خپره شوه ، خان ولي د شهباز کورته ورغی . هغه هم تیار د پښو په سر ناست و . دوه نیم لکه روپۍ یې شهباز ته ونیولې :

- پوره دوه نیم لکه دي . پنځوس زره یې سمدلاسه راسره نه وي . په څو ورځو کې به یې برابرې کړم ، بس په یو څو ورځو کې ...

شهباز پیسو ته وکتل ، په خپلو جیبونو کې یې ځای پرځای کړې . ټوپک یې اوږې ته کړ . ځادر یې د پاسه پرې واغوست او خان ولي ته یې وویل :

- ځه چې ځو !

او دواړه ځنګ په ځنګ سره روان شول . په لاره کې تر ډیره یې غږه غوږه روان وو . له خپلو کورونو نه چې ښه وړاندې لاړل ، شهباز ، خان ولي ته مخ ورواړاوه :

- بس ته بیا چرته پټ کینه ، هغه د زندیق بچی پوه شه او زه .

په اوږه کې پراته کلشینکوف ته یې یو ټکان ورکړ او خدای زده ځنګه خان ولي ټینګ وخوړ :

- بس ما هم په والله کې په بل چا زړه کاوه . زه خو پوهیدم چې د رخمت شاه د ټیک په دا ټول کلي کې بل څوک نه شته .

شهباز په بریتونو کې موسکی شو :

- رخمت شاه او زما د ټيك !

خان ولي ، شهباز ته وويل :

- په خداى ظلم يې راسره کړى ، ځکه مې يې د وژلو نيت وکړ او دري لکه مې پرې له زړه وښکلي .

د خان ولي په زړه کې تير شول چې پنځوس زره خو مې کمې ورکړې دي ؛ ځکه يې شهباز ته وويل :

- پنځوس زره به هم ډير زر پيدا کړم . له خميدګل سره مې د ويالي د غاړې د پټې د ګرويدو خبره کړې ده .

شهباز ته بيا په زړه کې څه شك وروګرځيد .

- اوګوره خان ولي ! سمه خبره راته وکړه ، په کور کې خو به دې خامخا څوك خبر کړي وي . په کور کې خو به دې مسلا ت کړى وي ، اخر د مسلات خبره ده کنه ؟

د خان ولي خوله بيا چينګه وينګه شوه :

- په والله کې مې لا هغه خپل دادا ته هم دا خبره کړې وي ، ما ويل ورکوه يې ، خرابه زمانه شوه ، نه چې په پرده پرده کې خبره رسوا شي .

لږه شيبه يې خبره وژوله او بيا يې شهباز غږ واورېد :

- او بيا لا تراوسه څه شوي هم نه دي ، څه به مې په کور کې چاته ويل ؟

شهباز يوځل بيا ډاډه شو . بيا يې په اوږه کې پروت کلشينکوف ته ټکان ورکړ او يوځل بيا خان ولي تينګ وخوږ :

- يوه چې دا د زنديق بچى مې له مخې لرې شي ، بيا به ګورو !

شهباز او خان ولي سره ډير وړاندې لاړل . شهباز خپلې پښې نورې هم ګړندۍ کړې او خان ولي هم لکه په هغه پورې چې ټرل شوى وي ، هغه هم ګړندى شو . شهباز ته په زړه کې نور څه وروګرځيدل : هسې نه چې

رحمت شاه په کور کې نه وي ، هسې نه چې دا نغدې دوه نیم لکه مې له لاسه ووځي . هسې نه د رحمت شاه په وژلو کې پاتې راشم ، هسې نه چې کله هغه وژنم او څه خندې رامخې ته شي ، او داسې خو ډیر تشویشونه د هغه له ذهنه ورچاپیر شول . هغه خو کله هم داسې شکونو دومره نه و وارخطا کړی . بیا یې په زړه کې وروګرځیدل :

– نغدې دوه نیم لکه روپۍ... او د رحمت شاه په وژلو کې خطرې !

یوه شیبه یې وغوښتل چې دغه د خطرې تشویشونه له ذهنه وباسي ، هسې نه چې د هغه له لاسه ټوله ګټه وباسي ، خو دا ځل د هغه فکر ته نور څه ورغلل . بیا یې خان ولي ته مخ ورواړاوه :

– اوګوره خان ولي ! هغه بخمل د شیطان بچی خو دې زورور اشنا دی ، هغه ته خو به دې له خولې نه څه نه وي وتلي ؟

خان ولي دا ځل ګیله من غوندې شو :

– شهباز خانه ما خو درته سپینه وویله ، نو چې ته یې نه منې !

شهباز نور څنډې لازم ونه ګانړه . دویم انتخاب یې غوره وګانړه . ټوپک یې یو ناڅاپه له اوږې رالیږې کړ . خان ولي ټوپ کړ او بیا د کلاشینکوف د ججورې د تشیدو یو « درز » شو . د خان ولي چیغې په دغه درزهار کې ورکې شوې . شهباز بیرته ټوپک اوږې ته کړ او له کټ کټ خندا سره یې وویل :

– خیر دی پنځوس زره یې تاوان !

او په بیړه له هغه ځایه راروان شو .

پیښور

۱۳۷۰ ش.د میزان ۱۲

ورونه

ویاړونه

د خپل ورور په باب هغه دا ډول خبرې نه شوې منلای . هغه ته دا ډول خبرې ټوکې او درواغ ښکاریدل . هغه په ټول کلي کې په دې مشهور و چې یوازینی ویاړ یې ورور دی . خلکو به ویل :

- هر څه یعنې د ده ورور ...
- دی یوازی همدغه یو ورور لري .
- له ورورە پرته بل څوك نه پیژني .
- خپله هیڅ نه دی ... بس هرڅه یې همدغه ورور دی .
- په هره خبره کې په خپل ورور ویاړي !

بهادر د کشمالي کشر ورور و . عجیبه ځواني یې لرله . لکه د افسانو خیالي زلمی . د کلي د ډیرو پیغلو به دا ارزو وه چې که د بهادر

په نامه شوای ، خو یوازې یوه یې ، خپلې دغې آرزو ته ورسیده . خیالې، د بهادر د ماما لور .

کشمالي ته بهادر یوازې په دې نه و ګران چې ګوندې یوازینی ورور یې دی ، یا دا چې دنګه او زړه راښکونکې ځواني لري ، هغه ته د اوچتو اخلاقو ډیر څه هم ور په برخه شوي وو . کشمالي به ویل :

– د بهادر غوندې ورور به بل د چا وي ؟

بهادر هوښیار او بااستعداده هلك و . ښوونځی یې په پوولسم ټولګي کې همداسې نیمګړی پریښود . دی په پوولسم کې و چې روسان راغلل او لکه د ډیرو نورو په څیر ، له ده نه هم زیاتې لیك لوست پاتې شو . د روسانو له راتګ سره سم یې د ښوونځي دروازې وتړلې شوې او ده هم لکه د نورو په څیر کتابونه او قلمونه وغورځول ، توري او توپکې یې را واخیستې .

بهادر لکه څومره چې د ښوونځي میړنی و ، دومره د پردو په وړاندې د جنګ د ډګر اتل هم و . د ښوونځي ژوند ، د غرونو او توپکونو په ژوند بدل شو او د بهادر د میړنتوب اوازې په هر ځای کې خپرې شوې . اوس به نو کشمالی له پخوا هم زیات خوشحاله و . اوس به یې ویل :

– که له ښوونځي پاتې شو ، له سپیتوبه پاتې نه شو

بیا به یې شونډې موسکی شوې او ورو څان به یې وویل :

– ورونه خو همداسې خوند کوي ، داسې ورونه ویاړونه دي .

خو داډیو کال کیږه چې د ورور په باب یې نورې نورې خبرې غوږونو ته ورسیدلې . هغه دا خبرې نه شوې منلې . بهادر هغه ته ډیر ښه معلوم و . هر هغه چا چې به کشمالي ته د ورور په باب څه داسې وینا وکړه ، نو هغه به په مایوسی ویل :

- دا څنګه کیدای شي ؟ بهادر خو زما نیم ځان دی ؛ زه له ځانه هم په بهادر ډیر باوري یم .

خو اوس د بهادر په باب دا ډول خبرې نورې هم زیاتې شوې وې . اوس چې به مجاهدین له سنګرونو او جبهو راغلل ، نو ویل به یې :

- بهادر اوس جهاد هم پرې ایښی . هغه کوم چا په ډیر بد څه را ډولی دی . بد یاران یې پیدا کړي . عجیبه څه دي لکه چې هغه خوري ، هره ورځ هغه لږ لږ کوچنی کیږي .ځینو به ویل :

- جهاد تري پاتې شو ، اوس زیاتره ښکته وي ، بد یاران همداسې وي ...

دا خبره به کله کله د کشمالي غوږونو ته هم تته شان ورسیده ، خو هغه به تریخ شو او په بیړه بیړه به یې وویل :

- دا څنګه کیدای شي ؟ بهادر داسې نه شي کیدای !

یوه ورځ بهادر کلي ته لاړ . کشمالي چې هغه ولید نو هغه پخوانی رنګ ، هغه پخوانی ځلا یې رښتیا هم څه بل ډول ورته ښکاره شوه . د هغه زړه ودرزیده . د خپل ورور ستوګو ته چې یې وکتل ، ستوګې یې هم هغه پخوانی ځلنده ستوګې نه وې ، خو لا د ورورې د صمیمیت نښې نه وې په کې ورکې شوې . هغه ته همدغه صمیمیت لا په کې ژوندی ښکاره شو . په زړه کې یې تیر شول :

- نه ! لا هماغسې دی ، لا هماغه بهادر دی ، له کلي لیرې دی ، ډیرې سختې ورځې پرې راغلې ، داسې ورځې چې زمري هم اوبه کوي ، دی خو لا بنیادم دی . بیا یې هم زړه ته نور څه ورولویدل . بهادر ته یې وویل :

- دا خلك نور نور څه وایي ... وایي چې بد یاران دي پیدا کړي ، زه خو یې هسې هم نه منم خو ... خو هسې نه چې ...

نور څه ویلو ته یې خوله جوړه نه شوه . بهادر موسك شو او ځواب یې ورکړ :

- لالا ! خلك به هر هر څه وایي .

او همدومره خبرې هم د کشمالي زړه پاك ووینځه . یوځل بیا یې شونډې ورو ورو وخوځیدې :

- داسې ورونه ویاړونه دي ...

بیا په ذهن کې ورتیر شول :

- خو که دا خلك رښتیا وایي ؟!

او بیا به یې له ذهن څخه د دې خبرې د هیریدلو هڅه وکړه .

د کشمالي د ژوند اوسنۍ لویه هیله دا وه چې خیالۍ زر تر زړه بهادر ته را واده کړي . په دغو دریو کلونو کې یې ایله همدومره څه ګټلي وو چې د هغې ولور پرې کړي ، او اوس یې دومره نور څه هم پیدا کړي وو چې یو څه ورسره پور کړي او واده پرې تر سره کړي .

ټولې روپۍ یې د بهادر مخې ته کیښودلې . هغه په ډیره خواري ګټلې وې . درییمه برخه یې په پور اخیستې وې ، هغه په پور هم خپه نه و . د بهادر د واده په ښادۍ کې ورته هر څه ښه او نیکمرغه بریښیدل . هغه چې به بهادر ته وکتل ، هغه چې به پیسو ته وکتل او هغه ته چې به د بهادر د ډولۍ د ورځې تصور ورغی ، نو موټی موټی غوښه به یې اخیسته .

کشمالي بهادر ته وویل :

- روکیه ! دا ته او دا دې پیسې . په سودا پسې خپله ښکته لاړ شه ، د سرو کالي ، جامې او نوره ټوله سودا پې کیزې .

د بهادر په مخ کې د خوښۍ له امله سرې کرښې لاړې راغلې .

کشمالي خپلې خبرې ته ادامه ورکړه :

- د لو لور وخت دی ، همداسې یې نه شم پریښودی . کنه زه خپله ورپسې تلم . پیسې یې ورکړې . د خپل کاکا یو زوی یې ورسره شو او بهادر خپله په سودا پسې لاړ ...

* * *

پوره یوه ساعت وروسته د کشمالي او بهادر د کاکا زوی راغی . بهادر ورسره نه و . یوازې راغی . ټولو تعجب وکړ . د کاکا زوی یې کشمالي ته وویل :

- بهادر په داسې څه اخته دی چې هر څه یې تړې وینځلي . بهادر اوس هغه پخوانی میړه نه دی . ګرد هرڅه تړې وړې ، له هرڅه یې خلاص کړی دی . هغه له ما جلا شو ، خپلو یارانو ته ورغی ، د ګرد یارانو ته ، د پوډرو یارانو ته ...

پر کشمالي سړ وګرځید :

- دومره بې غیرته شو ؟ د خپل واده په پیسو ... د خپلې ښځې ... او نوره خبره یې بشپړه نه کړای شوه . په شونډو یې غاښونه ښخ کړل ؛ مخ یې تک زیړ شو ، واسکټ یې واغوست او کله چې د کور له دروازې په بیړه واته ، نو تینګ یې وخوړ . کشمالي سخت زګیروی وکړ . د کاکا زوی یې ورمنډه کړه او له هغه سره یې په راپورته کیدو کې مرسته وکړه ، خو د کاکا زوی یې سخت متعجب شو :

- اخ ، لالا ! لاس دې ؟!

درناوی

دري - دري نيم سوه کاله کيږي چې زه دلته پروت يم . ما د همداسې يو ځای ارمان کړی و . داسې ځای زما ډير زيات خوښ و . هسې خو زما ژوند ټول له سرګردانی او لالهاندی ډك و ، خو په پای کې خدای داسې ارام او بنکلی ځای راکړ چې ما يې ټول عمر هوس کړی و . دا ځای بې شکه چې بنکلی دی ، آرام دی ، زما په زړه ځای دی ، خو دومره ډيره ارامی مې هم نه وه خوښه . ما خو څه داسې سکوت هم نه غوښتې . مرګنی سکوت زما نه و خوښ او اوس می هم نه دی خوښ . ارامي مې خوښه وه خو مرګنی سکوت نه ، هوسايښه می خوښه وه ، خو بې غږه غوږه ژوند نه ، او آخر زه اوس هم هماغه سړی يم . هماغه يم چې ستاسو د کتابتونونو د « خوشحال » په نوم په آثارو کې يم ، لکه

چې د خپلو کتابونو په پاڼو کې او د خپلو شعرونو په بیت بیت کې یم .

ما د خپل ژوند ټول کلونه څنګه تیر کړل ؟ ما څه وکړل ؟ په دې که ټول نه پوهیږي ، نو یو نیم د قلم او کتاب خاوند مو ډیر ښه پوهیږي . که زما خپل خلك نه پوهیږي نو بهرنیان خو ډیر ښه پوهیږي . له خپلو نه ، پردي هم ما ډیر ښه پیژني ، او دا دري دري نیم سوه کاله کیږي چې دا خبره هم ما څوروي .

زه چې د مرګې په پنجو کې ګیر شوم نو ما یو وصیت کړی و ، ما ویلي وو چې ما په یو داسې ځای کې ښخ کړئ چې د مغولو د اسونو د پښو ګرد را باندې پرې نه وځي . ما یې له شکه چې دا خبره کړې وه او دا خبره مې څکه کړې وه چې زما ظالم او جابر نه و خوښ ، هغه پردي مې نه وو خوښ چې پر مړ یې د خپلې خوښې حکمونه چلول او هغه خپل مې هم نه وو خوښ چې د پردیو په حکم یې پر خپلو ناکردې کولې .

زما یې له شکه دا هیله وه چې له مرګه وروسته خو د مغولو د سپرو ګرد پر ما ونه لویږي ، خو داسې هیله مې هیڅکله نه وه چې نور خلك دې هم کله کله زما پوښتنه نه کوي . د خپلو بچو د پښو د ګرد خو مې هیڅکله نه وو ویلي . زه ډاریږم چې زما له هغه وصیت نه چا غلط تعبیر نه وي کړی . زه د څه نورو فکرونو سړی وم . زما پردي هم بدې نه شول ، او زما له مغولو سره هم په دې بدي نه وه چې ګڼې هغوی مغول دي او زه پښتون یم . مغول د هغه وخت بې باکه ، جابران وو او پر مړ او نورو یې تیری کاوه . زما له هماغو ظلمونو سره نه وه جوړه او څکه تړې باغي او په وړاندې یې راپورته شوم . زه پوهیږم چې د نن مغول هم لکه زمړ بې وسه او غریب دي . زما خو له دوی سره څه بدي

نه شته . زما له هغه ظلم ، وحشت او د نورو په حق له پښو ایښودلو سره بدي وه او دا ظلم که نن د مغولو پرځای بل هر څوك کوي ، هغه لکه د پرون مغول داسې دي .

خو دا خبره مې د ځان په باب لکه چې بې ځایه وکړله . تاسو به په دې خبر یاست . زما د ژوند په پانو ، زما د آثارو په پانو کې به زما د نظر جاج تاسو ښه اخیستی وي ، خو بس یوه خبره وه راغله او ما هم بې ځنډه تاسو ته وکړه ، هسې نه په تاسو کې ځینې داسې کسان پیدا شي چې د اوسنیو مظلومو مغولو د پښو ګرد هم راپرې نزدي او د نورو نویو یرغلګرو د سپرو ګرد هم پر ځان ومني او هم پر ما . نه نه ، دوی او هغوی ، نوي او زاړه یو ډول دي ، ظلم که زور وي ، که نوی ، ظلم دی ، تیری دی .

نو ما خبره د سکوت کوله ، بله خبره په کې راغله . دا ډیر وخت کیږي چې څه سودا راسره مله ده . په تعجب کې یم . ډیر وخت کیږي چې خپلو بچو می پوښتنه نه ده کړې . چې اخر په هغوی څه شوې دي ؟ په دومره کلونو کې هم زه ورباد نه شوم ؟ زما خو دلته په دې سکوت کې ، د دې غرونو په څنډو کې هم هغوی له یاده نه دي وتلي . دوی څنګه زما په فکر کې نه دي او بیا دومره کلونه ؟! څو ځله بهرنیان راغلل . زما په باب یې په خپلو کې ډیرې خبرې وکړې . زما د قبر او شناختو عکاسي یې وکړه او بیا لاړل ، خو خپل بچي ؟ خدای خبر هغوی څه شول ؟ خدای خبر هغوی ته څه ورپیښ شوي دي ؟ څنګه زما پوښتنه نه کوي ؟ څنګه زما لیدلو ته نه راځي ؟ څنګه زما قبر ته د دعا لاس نه اوچتوي ؟ ما خو خپل ځان ټول د همدوی ګانه . او زه اوس دوی داسې هیر کړم ! نه نه ، هغوی ته خامخا څه ورپیښ شوي دي . زه

دومره سکوت ډیر تنګ کړی یم . چې آخر دا به څه ورپیښ وي ؟

... خو دا دی څه اورم ... د څه غږ دی ... د چا د پښو سنکالو ده ... دا دی راغلل . ایله چې مې ستوګې روښانه شوې ... ډیر کلونه وروسته څوك وینم ... څه اورم ... خو ... دا خو هم ... لکه چې د بهر څوك دي ... لویه ډله ده ... دا دی راغلل ... دا دی زما پښو او سرته ودریدل ... خپرې کوي :

- په دې اولس کې تر ده لوی ادبي شخصیت لا بل نه دی تیر شوی . غواړم یو څه ورته ووایم ، خو غږ مې له ستوني نه خیژي . پر ځان فشار راوړم . بیا هم نه شم کولی .

- که دې د پښتنو پر ځای په بل اولس کې وای ، نو په نوم به یې پوهنتونونه او ستر ستر کتابتونونه وو ... اثار او افکار به یې ...

په ما دا خبره سنه نه لګي . ماته اوس هم خپل بچي ګران دي . غواړم خبره یې ورځواب کړم ... نه نه ، بیا هم نه کیږي ... زما غږ زما له ستوني نه راوځي .

دا ډله ډیره شیبه زما د قبر شا او خواته اوړي رااوړي . سره غږیږي . د کتابونو پاڼې اړوي رااړوي . یو یې زما شعرونه لولي او نور چوپ ورته ولاړ دي . بل یې بیا څه نورې خبرې کوي ، زما ستاینې کوي او خدای شته چې زما د ځان دومره زیاتې ستاینې هم نه دي خوښې .

دا ډله هم لاړله . زما څو بچي هم په کې وو ، خو هغوی زما لیدو ته نه وو راغلي ، د خپلو میلمنو کوربانه وو . ځکه یې ماته دومره پام نه و . خپلو میلمنو ته یې خیال و . زه په دې هم تري خفه نه شوم . هغه میلمانه وو او زه خپل وم . د میلمنو خو قدر په کار وي . په هغه ډله کې نارینه هم وو او ښځې هم . ډیرو یې پر ما لیکنې او څیړنې کړې

وې . هغوی په خپلو کې دا خبرې سره کولې او ما تر ډیره د دوی په خبرو سوچ کاوه .

... عجیبه ده ... بیا د څه آواز شو ... د پښو سنکالو شوه ... دا څنګه کیدای شي ... اوس خو تکه توره شپه ده ... او آرښتیا دا خو زما خپل بچي دي ... پښتو وایي ... سترګې مې هم روښانه شوې او غوږونو مې هم ډیره موده وروسته پښتو واوریدله ... ایله بیله چې دوی زما په فکر کې شول ... خو په دا تکه توره شپه ... چې دوی ته به څنګه زه ورپاد شوی یم ؟ په زړه کې شکر کوم او په خپلو مخکینیو خیالونو بیرته پښیمانه ګیږم :

- نه نه ، لا یې نه یم هیر کړی !

خو ... دا څه ګورم ... دوی سره خو په لاسونو کې تور څه دي ... عجب چې په دا تسکوره ، تاسنې او ګینتې (ګودا له) څه کوي ؟ ... څه څه ... خپلې مټې یې راونغاړلې ... زما بچي ... پښتانه ... زما قبر ته یې ؟ ... غواړم فریاد وکړم ، آه ... آه ... زما بچو ... زما ... نه ... نه کیږي ... آه ... آه ...

* * *

او درې تنه پښتانه په ګډه ، د خوشحال خان خټک د قبر د ښایسته شناختو د نړولو او راپټولو په کار کې خلې خلې وو .

پیښور

۱۹۹۱ / ۲ / ۱۵

زموږ د کلي پانې

- هغه بې ګناه ده ، بيخي بې ګناه ده !
- زما لور پاکه ده ،
- زما لور د دې کارونو نه ده ،
- توبه ، توبه ... غرنۍ او داسې خبرې ؟ دا خبرې ورپورې ترړل شوي دي ، غرنۍ پاکه ده ،
- دشمنانو ورپورې دا خبرې ترلې دي ...
- دا يو تور دی ... تش تور ...

د غرنۍ مور به هر چاته همدا خبرې کولې . هر هغه څوك چې به په دې ورځو کې د هغوی کور ته ورغی ، نو له ستړي مشي ، خواره مشي وراندې به د هغې پر خوله دا خبرې جاري وې . هغې ته خپل زړه

همداسې ویل . هغې ته خپله لور ډیره پاکه ښکاریده .

یوه اوونۍ پوره شوې وه چې غرنۍ د خپل میړه له کوره ، د خپل پلار کور ته راغلې وه . راغلې نه ، د مور ، پلار او ورونو له خوا په زور له هغه کوره خپل کور ته بیول شوې وه .

یوه ورځ په ټول کلي کې هنګامه خپره شوه او په لږه شیبه کې دغه هنګامه د کلي هرې برخې ، هرې کوڅې ، هر کور ، هرې حجرې ، هر جومات او هرې کوټې ته ورننوتله چې غرنۍ یې له زمان سره ونیوله ، زمان یې وواژه .

د غرنۍ میړه جباري هغه وژلې و . دغه هنګامه په ټول کلي کې خپره شوه او خلکو ته د لا زیات تعجب ور ځکه وه چې غرنۍ یې یوځای نه وه ورسره وژلې . دې هنګامې ټول کلی په سر واخیست . په هر ځای کې به همدا خبرې وې . جباري به خپله ښځه ښودله چې :

- هغه ښه نه وه ... له زمان سره ښه نه وه .

بیا به یې سترګې نورې هم تنګې کړې او غاښونه به یې وچیچل :

- هغه به هم ورپسې ورولیږم . ډیر زر به یې په هم هغه پسې ورولیږم .

خو بیا به هم له خلکو سره پوښتنې پیدا کیدې چې ولې یې یوځای سره ونه وژل ؟ ولې یې لا تراوسه هم ژوندۍ پریښې ده .

په سبا یې د غرنۍ پلار ، مور او ورونه ورغلل او هغه یې خپل کور ته ټرې راوستله . دوه وارې زامن یې وو ، یو یې دوه نیم کلن او بل یې یو کلن . هغوی یې جباري ته پریښودل او غرنۍ یې ټرې کور ته راوستله . هغې به ژړل او ویل به یې :

- دروغ وایي ... بهانه پیدا کوي ...

مور به یې وروسته خلکو ته ویل :

زمان يې هسې واژه ، تربور يې و ، ورسره نه يې وه جوړه . له پخوا نه يې لا ورسره ورانه وه ، ترمنځ يې ډيرې خبرې وې ... لاره يې ورته جوړوله .

خو خلکو به تعجب کاوه :

- آخر دومره لوی تور په خپلې سترګې پورې ترل ؟ دا څنګه کیدای شي ! د خپلو دوو کوچنیانو په مور پورې ، په غرنۍ پورې ؟

جباري به ویل :

- ماته هغه ډیره ښه معلومه ده ، په خپل لاس به يې ورپسې ورلیږم .

د غرنۍ مور به بیا هم ویل :

- غرنۍ به مرګ ته ورنه کړم ، هغه پاکه ده ، هغه بې ګناه ده . هغه له زمان سره نه وه جوړه . جباری دروغ وایي .

غرنۍ غنم رنګه جلی وه . څلور کاله پخوا يې په تنکي پیغلتوب کې جباري ته ور واده کړې وه . داسې هم نه وه چې ګنې هغه د کلي بې جوړې سنګلې پیغله وه ، خو غنم رنګه وجود يې د هغې له منځنۍ ونې ، هوښیارو ستړګو او چالاکه طبیعت سره هغې ته لازم تناسب ور په برخه کړی و . جباری بیا داسې هم نه و ، د کلي سنځو به ویل :

- میرات يې شه دا بې ډوله ځان . له غرنۍ سره نه دی برابر .

خو اوس خلك په دوو کې پاتې وو . رو ګودر توې ورك و . غرنۍ څنګه داسې وکړل ؟ زمان څنګه داسې وکړل ؟ آخر د هغه د بدو خو لا چا نه وو اوریدلي ، بیا يې هماغه وخت ولې نه وژله ؟ اوس چې د پلار په کور کې ده ، دا به څنګه کیږي ؟ خلك به څه وایي ؟ کلی به څه وایي ؟

هسې هم ټول کلي توپکې غاړې ته اچولې وې ، ټول کلی توپك

توپك و . خو دا ځل توپکي په يو بل څه کې په کار راتلې ، په يوه بله لاره کې اوړې ته اچول کيدې . د زمان کورنۍ توپکي په اوږو کې تينګې کړې ، مورچو ته شول . جباري ته يې د چا په خوله ځواب ورولېږه :

– يا دې سځه هم ووژنه او يا به ته هم په زمان پسې ورځې .

خو هغه يې خبره ورځواب کړې وه :

– غرنۍ مې اوس له لاسه وتلې ده ، آخر به هم لاس ته راشي . اوس يې پلار او ورونو هر څه په غاړه اخيستي دي . اوس به يې هغوی ځواب وايي ، څنګه يې په خپل کور کې ساتلې ده ؟ خو د غرنۍ مور ، پلار او ورونو به هماغه يوه خبره کوله :

– نه نه ! هغه بې ګناه ده ، دا يو بې ځايه تور دی .

مور به يې لا کله کله دا خبره هم په کې وکړه :

– زمان يې خدای زده څنګه وژلی او اوس زما د لور سر په کې غوځوي ؟ ماته ډيرې خبرې معلومې دي ، يوه ورځ به يې ټول کلي ته کوم .

خو دا خبره له يوې ورځې نه بلې ورځې ته پراخيده . له کلي څخه وتله او تر شا او خوا کليو پورې هم رسيدله . د غرنۍ پلار يو توپك درلود ، خو دوه ورونه يې هم يو سرګروپ ته ورغلل او درې توپکي يې ځړې واخيستلې . دوه د خپلو ځانونو له پاره او يوه هم د خپلې خور له پاره . د هغوی خور هم توپك چلولی شو . توپکونه يې واخيستل او د مور او پلار په ګډون يې ټولو په نوبت پيره کوله . له يوې خوا جباری و ، چې که يې غرنۍ نه وای وژلی ، د زمان د کورنۍ پور ورته پروت و ، له بلې خوا د زمان کورنۍ وه . بل پلو هم کلی و او شا او خوا کلي

وو اود کلي خلك وو . خولې وې ، ژبې وې ، غوږونه وو ، خبرې وې ، هنګامې وې او د کلي په هره کوڅه ، هره حجره کې د همدغو هنګامو انګازې وې ، شرم و ، ننګ و ، غیرت و ، تیټ سترګې وه ، کلی و ، سیالي وه ، تربوران وو ، سیالان وو ، دوستان او دښمنان وو ، پښتو وه ، د کلي رواج و ، د کلي نرخ و ، خو د غرنۍ مور به ویل :

– نه نه ! دا درواغ دي . دا د جباري تور دی ، غرنۍ پاکه ده ! دلته بیا مور وه ، پلار و ، ورونه وو ، خور وه ، کور و ، مینه وه ، سره ګران وو او دغه هرڅه بیا بیا د هماغه ننګ ، غیرت ، رواج ، نرخ ، کرکې ، سیالۍ او د انتقام د لمبو په وړاندې دریدل .

د کلي خلك هم دې مَعماته حیران وو ، خو د ډیرو بیکارانو له پاره یې یو سبه جالب مصروفیت پیدا کړی و . ډیرې خولې وې ، هرڅه ویل کیدل ، له دې خبرې نه کیسې او افسانې جوړې شوې . اخر خولو ته چا غبرګولي جوړولی شول ؟ خبرې ډیریدې ، هنګامې زیاتیدې او د کرکې لمبو ټول کلی په خپله ځولۍ کې رانغاړه . تربوران سره زیږیدل .

غرنۍ په یو عجیب حالت کې وه . هغې ته دغه ټولې هنګامې وررسیدلې ، له ټولو خبرو خبریدله . هغه به خپل سرنوشت ته په تعجب کې وه ؟ هغه نه پوهیدله چې د دې سرنوشت به څه وي ؟ خو انجام ته یې په تشویش کې وه ، له ورونو څخه به دې زیاتې ګرمې پیرې کولې او ټوپك به یې له څنګه نه لیرې کاوه ، د هغې مخ له غنم رنګې څخه اوس مخ په توریدو و ، سترګې یې له ډوډې وړځې نه بلې وړځې ته ژورو ته کیدلې .

جرګې ترمنځه شوې . مرکو ټول کلی په سر واخیست . یوازې د دې کلي نه ، د شاوخوا کلیو مخور هم په جرګو مرکو کې سره راغونډ

شول . جرګې کيناستلې او ټولو په يوه خوله پريکړه وکړه چې غرنۍ دې هم جباري ته حواله شي چې په خپل لاس يې ووژني .

د غرنۍ پلار او ورونو دا پريکړه ونه منله . د هغې مور به اوس هم هماغه خبره تکراروله :

- زما لور بې ګناه ده ، پاکه ده !

خو غرنۍ بيخي چپه وه . هغه له هرې خبرې ، له هرې پريکړې خبريدله ، خو هيڅ يې هم نه ويل ، لمونځونه او نفلونه به يې کول او توپک به يې د کور د نورو کسانو په څير له ځنګه نه جلا کاوه .

د غرنۍ د پلار او ورونو په دې پريکړه بيا په ټول کلي کې تعجب خپور شو . آخر هغوی ولې د غرنۍ په وژلو دغه کرکيچ پای ته نه رسوي ؟ ټول کلی بيا هنګامو او انګازو ونيو . د غرنۍ کيسې بيا ګرمې شوې او دغسې خو هغوی په خپل کور پيړې لاپسې ګرمې کړې .

مخور بيا راغوند کړی شول . مرکې بيا کيناستې ، بيا پريکړې وشوې . بيا د غرنۍ د مرګ خبره وشوه . بيا هم د غرنۍ پلار او ورونو دا پريکړې ونه منلې او د هغې مور بيا هم هر چيرته ويل :

- زما لور بې ګناه ده ، پاکه سپيڅلې ده .

* * *

نن بيا خبره بل دول سنکاريده . ماسپښين موده به وه چې د دوی حجره له خلکو ډکه شوه . د غرنۍ پلار او ورونه هم په جرګه کې کيناستل . بيا جرګه ناسته وه . بيا يې څه پريکړه کوله او دا ځل جرګې غوښه پريکړه وکړه . دا ځل جرګه په پوره زور کې وه . زيات مخور ورسره وو . د دې کلي او د شاوخوا کليو څو تنه سرګروپان او قوماندانان هم په کې وو ، او جرګې خپله وروستۍ غوښه پريکړه د

غرنۍ پلار او ورونو ته واوروله :

– يا يې خپله ووژنئ يا يې جرګې ته وسپارئ چې ويې وژني . که تر سبا سهاره مو غرنۍ د وژلو له پاره مور ته ونه سپارله نو بيا به مو کور هم تالا کيږي او غرنۍ به هم په زور وژنو . جرګه خپره شوه . د جرګې پريکړه هم په کلي کې خپره شوه . بيا هم د غرنۍ د مور په خوله کې هماغه خبره وه :

– دا خبرې ، دا پريکړې نه شو منلی ، زما لور بې ګناه ده .

خو دغه ماښام د دوی کور ډير پيکه و . نن غرنۍ هم بيخي چپ وه. پلار او ورونو يې هم يو له بله سره خبرې نه کولې . ټول غمجن وو ، له پخوا هم زيات غمجن وو . د ماښام د ډوډۍ يې هسې عادت شانته وکړ او بيا يې خپل ځايونه ځانته جوړ کړل . غرنۍ ، مور يې او پلار يې په يوه کوټه کې ځملاستل . نن غرنۍ په لمانځه بيړه وکړه . خپل ټوپک يې په خپل ګټ کې کيښود او د لمانځه په وقفه کې به يې هم کله کله خپل ټوپک ته مخ ور واړاوه . نفلونه يې زيات اوږده کړل ، دومره يې اوږده کړل چې پلار يې د دې د نفلونو په مينځ کې لکه چې خوب يووړ . خرخر يې پيل کړ او مور يې هم بهر ووته چې اودس تازه کړي .

د غرنۍ مور اودس ته کيناسته . اودس به يې نيمايي ته رسولی و چې د دوی په کوټه کې يو درز شو . د هغې په غوږونو کې انګازې جوړې شوې . چيغې يې کړې او کوټې ته يې ورمنډې کړې . غرنۍ د زړه پر سر لګيدلې وه . پلار يې هم وارخطا و . يوه خوا ، بله خوا يې منډې وهلې او دواړو چيغې وهلې :

– دا دې څه وکړل ؟ ځان دې خپله وويشت ؟

– خپله دې ځان ووژله ؟

او په سبايي مور له ويږ سره يو ځای بيا هم هماغه خبري کولې :

- زما لور بې ګناه وه . خپل ځان يې خپله وواژه . د کلي د خاطره ، د خلکو د خاطره ، زمور د خاطره ... اخر ولې يې داسې وکړل ؟ ولې يې ...

هغې ويره کاوه ، چيغې يې وهلې ، چې په څنګ کې يوې سنځې ، بلې ته ورو شان لا دا هم وويل :

- خپل پلار يې ووژله ، هغه وخت چې مور يې اودس ته راووتله ... ما ته مې مور هم دا خبره وکړه .

خو زه نه پوهيږم ، هيڅ نه پوهيږم .

تاسو څه فکر کوئ ؟!

پيښور ، کچه ګړۍ

١٣٦٩ / ١١ / ٨

ډيوې بليزې ، ډيوې سوزيزې

دا لومړی ځل نه و چې لعل محمد په همدې نيت هلته روان و . درې ځله وړاندې هم هغه په دې نيت د خپل پخواني اشنا او ټولګيوال احسان الله ليدلو ته ورغلی و . هسې خو لعل محمد له هغه سره د ډيرو خوږو ورځو شپو ، د ډيرو خوږو خاطرو يادونه لرل ، خو دلته يې د هغه په باب په زړه کې کله کله داسې تيريدل چې کوندې هغه پخوانی احسان الله ، اوس لږو ډير بدل شوی دی . هغه ته به په زړه کې وروګرځيدل :

- خير يو څه بد ليدل خو يې حق هم دی . له دومره هستۍ سره څوک په يو څوک خامخا بدليزي . که زه وای هم ، ښايي يو څه بدل شوی وای .

خو د وروستۍ جملې په هکله به بيرته شکمن شو :

- که زه وای ؟ نه نه ولې ، اخر په څه او هغه هم د احسان الله په وړاندې ؟

خو دا ځل هغه يوې ډيرې سختې مجبورۍ د احسان الله ليدلو ته اړ کړ.

پخوا به چې کله احسان الله په زړه ور ووريد نو ليدلو ته به يې ورغې ، يوه شپه به يې ورسره تيره کړه ، د پوهنتون د دوران کيسې به يې سره وکړې . د پوهنځې ، د ټولګې ، د ليليې ، د طعام خورئ ، له ازموينې وروسته په ګډه سينما ته د تګ ، د ليليې په کوټو کې له ازموينو وروسته د اوږدو قطعه بازيو او نورو ساعت تيريو خاطرې به يې سره يادې کړې ، سره به يې وخندل او د خپلو ټولګيوالو په باب به يې هم سنه ډيره مرکه سره وکړه چې هغه پلاټکی اوس کوم ځای دی او هغه بل يې چيرې دی او څه کوي ؟ لعل محمد داسې محسوسوله چې په هرځل ورتګ کې د احسان الله له مينې يو څه کميزې ، د دوی په کيسو کې ورو ورو هغه خوند نه پاتې کيزې او احسان الله د تيرو کيسو پرځای د اوسنيو خبرو او پيښو خواته د لعل محمد پاملرنه وراړوي ، خو لعل محمد بيا داسې نه و . د هغه ټول يادونه له ماضې سره ټولې وو ، د هغه د ژوند په هره اوسنۍ شيبه کې ، د يوې پخوانۍ شيبې ياد پروت و . هغه ته د ماضې هره پيښه ، د ژوند د يوې نه هيريدونکې پانې په څير زيات ارزښت لاره .

لعل محمد د کابل پوهنتون د علومو له پوهنځې نه فارغ شوی و . دی او احسان الله دواړه د رياضې په څانګه کې سره ټولګيوال وو او په دغو څلورو کلونو کې به بيا د ليليې په بوه کوټه کې وو . لعل محمد ته د خپل ژوند په ټولو کلونو کې دغه د پوهنتون ، پوهنځې او ليليې د ژوند کلونه ډير په زړه پورې وو . مخکينی ژوند يې ټول په

کلي کې تير کړې و . ليسه يې هم خپل کلي ته په يوه نزدې برخه کې پای ته رسولې وه او چې کله پوهنتون ته راغی نو هر څه نوي ، سنکلي او په زړه پوري ورته بريښيدل . د پوهنتون ځلور کاله يې په ډيره مينه ولوستل ، د پوهنتون له فراغت وروسته هغه په ننګرهار کې په يوه ليرې پرته ليسه کې سبوونکی شو . هغه ته دلته درس ورکول تر هرڅه سبه ښکاريدل . لعل محمد ته به هغه وخت ورياد شو چې دی په ليسه کې زده کوونکی و . له پوهنتون نه د فارغ استاد به په هغه ليسه کې ډير قدر و ، هرچا به ويل :

- ليسانسه دی ، عجب استاذ دی !

او هغه همداسې يو استاد و . يوازې دوه کاله سبوونکی و . بيا څه عجيبه پيښې راغلې . روسان راغلل ، د هغوی راتګ يوه بدمرغي وه او عسکرۍ ته د نيولو هنګامه بله بدمرغي . يوه ورځ يې هغه هم له معلمۍ منفک کړ ، خو لعل محمد د دې پر ځای چې عسکرۍ ته لاړ شي ، سيده پيښور ته راغی . په پيښور کې څو کاله سرګردانه و ، په ده پسې يې سبځه ، ماشومه لور او بوډۍ مور هم راغلې وو . په پيښور کې د کار وبار هيڅ درک نه و ، هرې خواته چې به يې مخه کړه ، کار به يې نه شو پيدا کولی ، بيا يې څه موده د خښتو مزدوري کوله ، هغې هم خوند ورنه کړ ، نوي کورونه او تعميرونه جوړيدل ، هلته به يې د ورځې مزدوري کوله ، دا کار يې ډير وخت وکړ ، خو څو ورځې به کار پيدا کيده او ډيرې ورځې به وزګار و ، تر څابنته به په تاکلي ځای کې ، له هغو ډلو سره ناست و چې د کار له پاره به منتظر وو ، خو چې دغو منتظرينو شمير به دومره زيات و چې يوازې نيکمرغه کسانو ته به کار پيدا شو .

لعل محمد له ډيرو منډو تړو وروسته اخر هم يو بری ترلاسه کړ ، په يوه کمپ کې يې د مهاجرو په يوه ليسه کې معلمي پيدا کړه او په دې کار لعل محمد دومره خوشحاله و چې کله يې هم دومره خوښي نه وه حس کړې . په ماضي کې چې به يې د دغې خوښۍ د سيالۍ د لټون کومه شمع بله کړه ، نو يوازې هغې ورځې به د سيالۍ سر ورسره وخوځاوه چې د پوهنتون نومړي اعلان شوې وې اود ده نوم د ساينس پوهنځي ته د بريالیو کسانو په لست کې ليکل شوی و او هغه ورځ ، لعل محمد هغه لست . له لنسو ځلو زيات له يوې مخې لوستی او هر نوم يې په لوړ غږ له ځانه سره تکرار کړی و ، هر ځل چې به د لست دې برخې ته راورسيد :

– لعل محمد ولد اختر محمد – ننګرهار – سيد جمال الدين افغان ليسه

– د علومو پوهنځی

نو په شونډو کې به موسکی شو . نن هم چې هغه د مهاجرو د يوې ليسې د حاضرۍ په کتاب کې خپل نوم وليد ، نو همداسې څه کانه پرې وشوه . څو ځله يې د سبوونکو د حاضرۍ کتاب له پيل نه تر پای له نظره تير کړ او هرځل چې به يې په خپل نوم سترګې ولګيدې ، نو موسکا به يې په شونډو کې غزوني وکړې . حاضري يې لاسليک کړه او داسې ، د هغه د ژوند د اميدونو يوه بله غوټۍ ګل شوه .

لعل محمد يوه ورځ خپل پو بل تولګيوال وليد . د خپلو پخوانيو يارانو يادونه يې سره تازه کړل او بيا چې لعل محمد ته معلومه شوه چې د هغه اشنا احسان الله اوس ښه معتبر شوی دی ، نو هغه ډير خوشحاله شو . له دې وروسته به هغه وخت ناوخته د احسان الله ليدلو ته ورته او چې هغه به يې دومره نيکمرغه او مصروف وليد نو يو يو من

غوښه به يې اخيسته . هغه د يارانو په ښه ورځ زيات خوشحاليده ، هغه چې به بل څوك هم هوسا او نيكمرغه ليدل ، نو لكه چې دى خپله هوسا او نيكمرغه وي او ياران خو نو بيا ياران وي .

دا ځل لعل محمد په كلكه دا تكل كړى و چې خامخا به احسان الله ته هغه خبره كوم . دري ځله مخكې هم هغه په دې نيت راغلى و ، خو چې احسان الله به يې وليد ، نو يووار به يې تياره جوړه كړې خبره په خوله كې وچه شوه . نور نو هغه ډير تنگ و ، نور يې خپله خبره له احسان الله نه نه شوه پټولى . هغه پوهيده چې احسان الله ته دا خبره هيڅ هم نه وه . هغه چې به د احسان الله ډول ډول موټرو ، حجرې ، ميلمنو او د كار وبار سلسلو ته وكتل ، نو هغه خپله هيله به ډيره كوچنۍ ورته ښكاره شوه .

پنځه مياشتې كيدې چې لعل محمد ته يې تنخواه نه وه وركړې . هغه نور ډير بې طاقته شوى و . بله هيڅ لاره يې نه لوله . په كور كې له څيرمې ناروغه وو . دې خپله هم ناروغه و ، خو ټولې ناروغۍ يې د خداى (ج) اسرې او هغې ورځې ته پريښې وې چې كومه تنخواه واخلي . نور يې نو انتظار نه شو كولى ، خو اخر څه يې كړى واى ؟ په خپل عمر كې يې له چا نه څه نه وو غوښتي . دا لومړى ځل و چې څه يې بايد غوښتې واى او هغه يوازې احسان الله د دې كار له پاره غوره كړ . بل چا ته يې خوله نه جوړيده . كله خو به يې په زړه كې تير شول :

– بس نه يې تړې غواړم .

خو زر به بيرته پيښمانه شو :

– نو څنگه به كوم ، له چا به يې غواړم ؟

سختو فكروتو به په مخه كړ . تنخواه نه شته ، بل كار هم نشته ،

نو آخر څه به کوم ؟

په زړه کې به وروګرځیدل :

- که یې رانه کړي ، که څه بانه وکړي ؟

او بیا به لږ شانته ډاډه شو :

- دومره یې پیدا کړي چې په دا زړو مرو خو یې جیب په خدای که پوه هم شي .

او بیا به څه فکر ورغی :

- چې زما به خوله ځنګه ورته جوړه شي ؟

بیا به یې خپل ځان ته قهر ورغی :

- خوله خو مې ماتیزې نه ! ولې به نه جوړیزې ، که نه نو څه به کوم ؟

بیا به دوه زړې شو :

- هغه دري ځله مې هم جرأت ونه کړ ، خبره رانه وتښتیده .

خو بیا به یې زړه بیرته ډاډه کړ :

- دا ځل به خامخا ورته وایم . ډیرې نه یو پنځه سوه به تړې غواړم .

- او پنځه سوه هغه ته څه شی دی ؟

بیرته به تکنې شو :

- اول ځل دی چې پیسې غواړم .

د زړه درزا به یې نوره هم زیاته شوه . زمکې ته به یې وکتل :

- چې له هغه یې ونه غواړم له چا به یې غواړم .

لعل محمد په همدغو سوچونو کې د احسان الله د کور تر دروازې ورسید . په دا دومره لاره هیڅ پوه شوی نه و ، خدای زده څو ك څوك به یې په لاره کې لیدلې وي ، څه څه به مخې ته ورغلې وي ، خو ده هیڅ شی هم نه وو لیدلې ، یواځې خپل سوچونه ورسره وو .

اوس يې په جيب کې سره ټکه هم نه وه . وروستۍ دوه روپۍ يې هم په موټر کې تر دې ځايه د راتګ کرايه کړه . هغه حجرې ته ورننوت . مازديګر و . احسان الله په کور کې نه و ، ورونه يې وو . دی د احسان الله د راتګ په اميد کيناست . تر مابنامه هم هغه رانغی . د مابنام ډوډۍ وخوړلی شوه او ماسخوتن احسان الله له ګڼ شمير کسانو سره په يو دوه سيتې ډاټسن کې راورسيد . له لعل محمد سره بيا ستړې مشي وکړل ، خو هغومره مزه يې په کې نه وه . دا ځل هغه له پخوا هم يو څه سوړ شوی و . يو څه خندا خو يې ورسره وکړه :

– څنګه ده معلمي مو ، ښې مزې مو وکړې !

او د لعل محمد ستړګې د هغه په نوي ډاټسن کې ورښځې شوې ، بيا د خپل ښوونځي ټول ښوونکي يو يو يو ستړګو ته ورته ودريدل . يوه يې هم موټر نه درلود . موټر څه ؟ ټولو يې پنځه پنځه مياشتې تنخواه نه وه اخيستې ، ټول د لارې کرايې ته هم په فکر کې وو ، د خپل مکتب د وخت ښوونکي يې يو يو له نظره تير کړل . يوه هم موټر نه درلود . د هغه ذهن ته د پوهنتون استادان هم يو يو ورغلل ، يوه يې هم موټر نه درلود ، د هغه ستړګې لا هماغسې په نوي دوه سيتې ډاټسن کې ښخې وې . احسان الله ورغږ کړ :

– بچو خانه په مزو کې يې ...

او لعل محمد لکه له خوبه چې راجګ شوی وي :

– څه مزې ، پنځه مياشتې کيږي ...

خو « پنځه مياشتې » يې دومره ورو کړې چې خپله يې هم وانه وريدې. يوه پينسيمانه شو . فکر يې وکړ چې اوس يې وخت نه دی .

تر يو وخته احسان الله په حجره کې ناست و . د يو څه او بل څه په

پاب خبري وي . د يو خلك وو او ډيري خبري . كله كله به يې لعل محمد ته هم پام شو . لعل محمد خو ځله په زړه كې خبره راجوړه كړه چې راشه ورته ووايه . خو بيرته به پښيمانه شو . پر ده د هوډ او پښيمانۍ خپې تلې راتلې ، كله به يوه پر بله زوروره شوه او كله به بيا بله پر بله . هغه فكر وكړ چې اوس نه كيږي ، سبا سهار به بيا خبره ورسره كوم . لعل محمد به د خبرو په منځ كې كله كله د خپلو ستونزو څه تتې اشارې احسان الله ته وركړې ، خو احسان الله به خبره بيا بلې خواته واړوله . خداى زده څنګه يې د لعل محمد د ستونزو له خبرو سره چندانې دلچسپي نه ښودله ، يا خو ښايي لعل محمد داسې احساس كاوه .

. سهار د چايو له څكلو وروسته ، لعل محمد غوښتل چې تري رارخصت شي . هغه راپورته شو . لږه شيبه احسان الله له لعل محمد سره يوازې شو . لعل محمد فكر وكړ چې راځه همدايې وخت دى . خوله يې خبرې ته راجوړه كړه . لايې شونډې نه وې خوځيدلې چې پښيمانه شو . لاړه خبره يې په ستوني كې وچه شوه . هغه بيا پر ځان فشار راوړ . خپلې تولې بدمرغۍ مخې ته ورته ودريدې . بيا يې په زړه كې خبره راجوړه كړه . له جوړيدلو سره سم ، بيرته ويجاړه شوه .

لعل محمد ته هغه ورځې وريادې شوې چې كله به دى او احسان الله له پوهنتون څخه د سبا پر لور چكر ته راووتل او په ملې بس كې به كيناستل ، نو د سرويس نګران ته به د پيسو په وركړه ، د ده او احسان الله هميشه جنجال و . لعل محمد به غوښتل چې احسان الله د كرايې په وركړه كې له ده نه مخكې نه شي ، او همدې سوچ د ده هيله بيخې وسوزوله . د احسان الله غږ واوريدل شو :

- چې ځې نو په مخه دې سه .

د هغه لاس لعل محمد ته ور اوزد شوی و . لعل محمد د وروستي ځل له پاره پر ځان فشار راوړو . دا ځل يې وغوښتل چې لږ ترلږه د لارې کرايه خو ترې واخلم . يوه روپۍ هم راسره نه شته ، خو دې خبرې ته يې هم خوله جوړه نه شوه . دې سوچونو د هغه لاس د احسان الله په لاس کې يو څه ځنډنی کړ او هغه پوه شو چې احسان الله خپل لاس ترې راښکود .

لعل محمد پر لوی سړک پلی روان شو . له اوزده مزل وروسته يې په يوه برخه کې وليدل چې د احسان الله نوی دوه سيټه ډاټسن د هغه ترڅنګه تير شو او هغه په خپل ښي لاس خپله سپينه جالي خولۍ کلکه کړه .

پيښور ، بورډ
٦ جوزا ١٣٧١ ش
٢٧ مې ١٩٩١ ع

په ۱۳۵۸ نمبر کوټه کې

د لیلیې په ۱۳۵۸ نمبر کوټه کې ښه ګڼه ګوڼه وه . د سګرټو دود د الکولو له تند بوی سره ، د کوټې فضا ته څه بله بڼه ورکړې وه . دري څلور بوتله تش شوي وو . کله به یوه تن خبرې کولې او نورو ټولو به غوږ نیولی و ، کله به بیا هر چا په خپلو کې دوه په دوه خبرې سره کولې ، بیا به د یو چا غږ تر نورو لاپسې لوړ شو او ټول به یې ځان ته متوجه کړل . زیاتره به ټوکې وې او د ټوکې په پای کې به د اصلي ټوکې له کیفیت نه هم ، د الکولو کیفیت ، خندوې څو چنده کړې .

په کوټه کې ناستو کسانو ټولو په روسي ژبه خبرې کولې ، خو ټول ناست کسان روسان نه وو . له الکساندر الګانوف پرته چې ۱۳۵۸ نمبر کوټې په هغې پورې اړه لرله ، درې تنه نور روسان هم وو ، یو هلك او

دوه جینکې، یو تن بلغاریایي ، یوه بله پولنډې جلې ، یو کمبودیایي او یو هم افغان ، د دغو ټولو کوټې د لیلیې په یو اړخ کې وې او نن د الکساندر الګانوف د کلیزې په ویاړ د هغه له خوا میلمانه شوي وو .

په دې بنډار کې ناست افغان ، ابراهیم نومیده . ابراهیم اصلاً د غزني و ، د غزني د سنایي له لیسې فارغ شوی و . له لیسې نه تر فراغت وروسته کابل ته راغی . په کابل کې څه موده د اوبو او بریښنا په وزارت کې مامور و . په افغانستان کې د کودتا او بیا د روسانو د راتګ په وخت کې هم دی د اوبو او بریښنا په وزارت کې یو ټیټ رتبه مامور و . په کابل کې په یوه کوټه کې اوسیده او اوس به هم په رخصتیو کې غزني ته ، ته . وروسته دا لارې کړکیچنې شوې او دی هم له کابل نه بل چیرته نه شو تلای .

څه موده وروسته عسکرۍ نه د نیونکو انګازې خپرې شوې . د ابراهیم یو خپلوان په حکومت کې سنه غټ سړی و . ابراهیم کله هم پر هغه غږ نه و کړی او چې د عسکرۍ د انګازو یې ورته وویل او دایې هم ورته وویل چې کیدای شي یو زر زما د موقوفۍ او عسکرۍ ته د لیږلو مکتوب هم راشي ، نو هغه کوم چاته ټیلفون وکړ او په سبا چې یې ابراهیم هلته ورغی نو په شوروي کې د زده کړې فورمې ورکړی شوې . ابراهیم ته هم له عسکرۍ څخه د خلاصون یوازینۍ لاره همدا ښکاره شوه او داسې خو د ۱۳۶۰ کال د وري په میاشت کې دی شوروي ته لاړ او له ښو تالو د مسکو په یوه سنه پوهنتون کې شامل شو .

ابراهیم هیڅکله د کوم سیاسي ګوند غړیتوب نه لاره . مسکو ته د ورتګ په فورمو کې « د سیاسي او ګوندي موقف » یو جلا کور و او د فورمې دغه (خانه) تر نورو ټولو مهمه ښکاریده ، ابراهیم حیران و

چې اوس له دې « خانې » سره څه وکړم ؟ په پای کې یې د خپل هماغه « معتبر » خپلوان په مشوره او مرسته په دغه خانه کې ولیکل : « د افغانستان د خلکو د دیموکراتیک ګوند غړی » او یوازې په یوه تیلفون یې د اوبو او بریښنا وزارت د لومړني ګوندي سازمان د تصدیق ستونزه هم حل کړه ، خو هغه معتبر خپلوان یې ، د لومړني سازمان منشي ته د تیلفون په وخت کې ابراهیم ته همدومره وویل : سړیه خو څو ځله مې درته وویل چې ورشه او نوم دې په کې ولیکه خو ستا په زړه کې خدای زده څه دي .

ابراهیم چې په مسکو کې خپلې زده کړې پیل کړې نو تر یوه کاله پورې یې له سیاسي او ګوندي اړیکو څخه ځان یوې او بلې خواته کاوه ، خو په پوهنتون کې د افغاني محصلینو د ګوندي سازمان منشي هغه ته په زغرده وویل چې که له ګوند سره سیاسي اړیکې تینګې نه کړې ، سفارت او یا هم کابل ته به خبر ورکړي چې دی نه یوازې ګوندي غړی نه دی ، د ګوند د غړیتوب له پاره هیڅ ډول دلچسپي هم نه لري ، دلته د غیر ګوندي کسانو له پاره ځای نه شته ، دلته انقلاب ضد کسان ځای نه لري .

ابراهیم ته دلته هم بله لار پاتې نه شوه ، په نه زړه به یې په ګوندي غونډو کې ګډون کاوه ، کله کله به یې ځان په څه هغه دغه بهانه خلاص کړ او چې هیڅ بهانه به پیدا نه شوه ، نو بیا به یې له ګډون پرته بله لار نه لرله ، ابراهیم ورو ورو له دغه ډول حالاتو سره عادت کیده . سره له دې چې په لومړني سر کې په هره برخه کې دغه خلك څه بل ډول ورته ښکاریدل ، خو وروسته یې د دغه نوي ژوند له ځینو اړخونو سره زړه ولګید ، مثلاً د مسکو جنګلي یې ډېرې زیاتې خوښې وې او له ودکا

سره يې هم ډيره جوړه وه ، خو په دې سبه پوه شوی و چې زمونږ هغه خو بيخي د دوی د لارې راندې لارويان دي . هغه به په دې ډير ځوريده چې د يو پردي ملك پوځ ولې د هغه په هيواد کې وي ؟ او چې کله به يې ودکا پرې زياته شوه نو فکر به واخيست چې اخر زه ولې په داسې يو هيواد کې اوسم چې زمونږ وطن يې را څخه نيولی دی ، دغو فکرونو به دی ډير ځوراوه ، کله به يې ستړګې له اوښکو ډکې شوې ، خو هغه چې به هر څومره سوچ وکړ ، بله لار يې ونه موندله ، دی اوس همداسې څه حالاتو رانغاړلی و .

نن هم داسې سنکاريدل چې سو يې زيات تود شوی او درونده شوی وي ، نن څه ډيرو خاطراتو په مخه اخيستي و ، خدای زده څنګه يې غزنی بې دريغه په زړه ورورېدلی و ، د کابل خاطراتو په مخه کړی و او څنګه يې د خپل وطن يارانو وريادېدل ، يوه شيبه خو دې خاطرو داسې په هوا کړه ، لکه چې اصلاً دلته د ليليې په ۱۳۵۸ نمبر کوټه کې په دغه ګنډه ګونډه کې ناست نه وي ، خو څو پرله پسې غزونو ، هغه د خپل تصور له دنيا ګې نه بهر کړ :

- ابراخيم ... ابراخيم ...

او ابراهيم ځان وخوځاوه ، الکساندر الګانوف هغه ته يو ګيلاس نيولی و . خدای زده څنګه يې د ګيلاس اخيستلو ته هم زړه نه کيده ، هغه بيا ورته وويل :

- تواريش ابراخيم ...

او د هغه له « تواريش » نه هم بدی راتلل او د ابراهيم پوځای د « ابراخيم » له ويلو څخه هم ، نور خو لاخير چې کله به خپل کمبودياييې تولګيوال هم د ابراهيم پرځای « ابراخيم » باله ، هيڅ يې نه خوښيدل .

په مات زړه يې د الګانوف له لاسه ګيلاس واخيست او د دې پرځای چې ويې څکي ، يوه شيبه يې په لاس کې ونيو او بيا يې خپلې مخې ته پر پراته ميز کيښود .

الګانوف د پوهنتون له هغو نويو محصلينو څخه و چې په افغانستان کې د سره پوځ په ليکو کې له دوه کلن « خدمت » وروسته بيرته مسکو ته تللی و او څو مډالونه يې هم اخيستي وو . الګانوف چې به کله کله ابراهيم ته د افغانستان د خاطراتو په باب کيسې کولې ، نو د هغه هيڅ نه خوښيدې او ابراهيم به خبره کوم بل پلو ته اړوله . په افغانستان کې د عسکرۍ د تيرولو له امله خو د ابراهيم په زړه کې الګانوف ته ، د علاقمندۍ هيڅ ځای نه و پاتې ، خو خدای زده نن يې ولې د الګانوف بلنه منلې وه ، شايې د دې له امله به وه چې دغه نوره ټوله ډله ورپسې ورغلې وه او په تيره بيا د پولنډ ی جلۍ له خبرې نه خو هغه نه شو تيريدلای .

شپه به نيمايی ته رسيدلې وه چې يوځل الګانوف ته افغانستان ورياد شو . د افغانستان په باب يې څه وويل ، د هغه ځای د خلکو په باب چې د هغه په اصطلاح څنګه يې زياتره « دشمن » « غزني » او د « انقلاب ضد » خلک دي ، هغه بل ناست روسي توې په افغانستان کې د يوې ډيرې جالبې خاطرې په باب پوښتنه وکړه . الګانوف لږه شيبه غلی شو او بيا يې وويل :

– ډيرې زياتې دي ، ډيرې جالبې دي ، خو خير يوه خاطره به درته ووايم . لږه شيبه وځنډيد . ابراهيم ته يې وروکتل او د هغه له ورکتلو سره ټولو ابراهيم ته وروکتل . ابراهيم خپلې ستوګې زمکې ته سنګته کړې وې . الګانوف خپله خاطره پيل کړه :

- له عسکرۍ نه زما د ترخیص په وروستۍ میاشت کې یوه پینسه وشوه . ما د هلیکوپټر په کنډک کې « خدمت » کاوه . مور په وروستۍ میاشت کې د هلیکوپټر په وسیله هغه کسان له پاسه څارل چې د سنار او د « اشوارو » د سیمو ترمنځ به ولیدل شول . زما وروستۍ وظیفه د غزني د ولایت خواته وه ...

او چې ابراهیم د غزني پرځای د « ګزني » نوم واوریدل ، نو د ده حواس یې خپلې خواته وروړول ، له زمکې یې سر راپورته کړ ، هغه ته یې ږه ږه وروکتل او بیرته یې خپل سر زمکې ته ټیټ کړ . الګانوف بیا خبره شروع کړه .

- مور یوه ورځ له پاسه ډوه تنه ولیدل چې له غرونو نه د کلي پر لور روان دي ، یو خر یې هم مخکې روان و ، پر خره څه شی بار وو . مور هلیکوپټر ورته سنکته کړ ، هغو دوه تنو منډې کړې ، مور ډزې پرې وکړې ، هغه یو یې په پسو ولګید او له منډو ولوید . هغه بل هم ودریدل او مور دواړه را ونیول ، دوی په خپله ژبه ډیر څه وویل ، خو مور نه پرې پوهیدلو ، یو یې بوډا شانته و غټه زیره یې وه او یو یې زلمی و ، عجیبه ځواني یې لرله ، لکه دغه ابراخیم ...

او بیا هم ټولو د ابراهیم خواته وکتل . ابراهیم هماغسې زمکې ته کتل . پولنډۍ جلې وخندل او دا ځل دغه خندا هم په ابراهیم سنه ونه لګیده . لږه شیبه یې له زمکې سترګې راپورته کړې ، پر مجلس یې یو عمومي شانته نظر واچاوه او بیرته یې سترګې سنکته کړې . الګانوف بیا خبره شروع کړه :

- مور هغوی دواړه راونیول . د زلمي له پسو وینې بهیدې ، شا او خوا زمکه یې سره کړې وه . دواړه مو هلیکوپټر ته ورجګ کړل . مور ته

راپورونه رارسيدل چې په هغه پورې غړه کې د « دښمن » پوستې د کلي له خلکو سره روابط لري ، خوراك له همدې ځايه ورځې او کيدای شول چې ټول کلی د هغوی په لمسه راپورته شي . زمونږ يوه ملګري په هغه بار خر هم د کلاشينکوف يو بات وچلاوه او بيا مو هليکوپټر جګ کړ . مونږ هغوی د عملياتو موقت مرکز ته ورسول . قوماندان مونږ ته خپه ځانګړی دستور راکړ او مونږ بيرته هغوی په هليکوپټر کې کښينول ، هليکوپټر مو سمه جګ کړ او چې پورې غړونو ته ورسيدلو نو هغه بوډا او هغه تېې زلمی مو له هليکوپټره لاندې وغورځول . درې ورځې وروسته خبر شولو چې هغه بوډا او هغه زلمي له دشمن سره رابطه نه لرله ، مونږ ته وروسته هلته د حکومتي قواوو عسکرو دا خبره وکړه . ويل يې چې تره او وراره دي او له غړه نه يې لرګي راوړل . کله کله د دشمن په لټه کې داسې هم کيږي .

او هغه خپله خبره بشپړه نه کړه . ابراهيم له ځايه جګ شوی او هغه يې له مړې نيولی و ، ټول له ځايه پورته شول ، ټولو ابراهيم راونيو او الګانوف يې تړې خلاص کړ . د کليزې دغه د خوښۍ مجلس په يوه شيبه کې ګډوډ شو . ابراهيم د الګانوف د وهلو نور زور ونه کړ ، په بيړه له کوټې ووت . د محفل خونده خرابه شوه . پولينډۍ جلېږ ، الګانوف ملامته کړ چې لازمه نه وه د ابراهيم د هيواد دا خاطره يې ويلای وای ، او داسې د الګانوف د کليزې د خوښۍ دغه محفل په همدې ځای کې ختم شو .

ابراهيم په خپل چپرکټ کې ځملاست . خپلې بسترې خوند نه ورکاوه . په غږني کې و ، ټول فکر يې هلته و . له ځايه راپورته شو . تشناب ته لاړ . په هينداره کې يې خپل ځان ته وکتل . ستوګې يې

تکي سري وي . اوبه يې مخ ته واچولې ، خو ځلی يې مخ په يخو اوبو وڅينځه . بيا په خپل چپرکټ کې څملاست . بيا هم په خپل وطن کې ګوځيده ، هماغسې يې زړه په سينه کې تپپونه وهل . بيرته له ځايه راپورته شو . خپله تولګه کوټه يې ولټوله ، يو کوچنی شان چاقو يې پيدا کړ او په يوه منډه له خپلې کوټې ووت . د ۱۳۵۸ نمبر کوټې مخې ته ودريد او د هغې کوټې دروازه يې په زوره وټبوله .

* * *

قاضي خپلې مخې ته پروت ميز وټباوه او د تولګو پاملرنه يې د خپل ځان خواته وروړوله . په محکمه کې هماغه د ۱۳۵۸ نمبر کوټې د پيښې پريکړه کيدله . قاضي بيا وپوښتل :

- ابراخيم ! په خپل تول تحقيق کې ليکلي چې هغه په ګزني کې د هليکوپټر نه را غورځيدلي کسان ستا تره او ورور وو ؟

ابراهيم وويل :

- همداسې يې وګڼه !

خو مونږ ته چې معلومات رارسيدلي ...

قاضي يې د خپلې خبرې بشپړيدلو ته پرې نه سنود :

- که زما نه وي ... د يو بل « ابراهيم » خو به مخامخا وي ...

او قاضي له ځانه سره تکرار کړل :

- د بل ابراخيم ... د بل ابراخيم ...

او بيا لږه شيبه وروسته د محکمې حکم صادر شو :

- د محکمې د پريکړې له مخې « ابراخيم » په دايمي بنډ محکوم شو ...

او بيا ابراهيم پوليسو له ځان سره مخکې کړ .

مانۍ

مور د مانۍ پر بام ولاړ یو . څه موده مخکې د دغې سنګلې مانۍ بام ته راوختلو . خومره لویه مانۍ ، خومره پراخ بام ! مور له وړایه د مانۍ د ښایست ننداره کوله . ګاونډیانو راته چوړوله . چې دوی خومره زمور په فکر کې دي . خپله په ډیرو اوچتو مانیو کې اوسي او پر مور یې هم داسې سنګلې مانۍ پیرزو وي . دا یې همدا زمور لپاره جوړه کړې ده . مور یو شمیر خاص کسان مانۍ ته وروبلل شوو . دا دی اوس مو مانۍ خپله ده . مانۍ زمور په خپل واک کې ده . خو دا لاندې ؟ ... او هو ! مور خومره راجګ شوي یو او دا لاندې ، ډیر لاندې د ختو کورونه ، له دې ځایه یې انسانان هم سم نه سنګاري ، هسې لکه مرغۍ چې پر زمکه ګرځي .

مانۍ ته له راجګيدلو سره سم ، مور ته له مانۍ تيت کسان ډير بدمرغه ښکاري . هغوی خومره په ژورو کې دي ؟ مور په خپلو کې سره کښيناستلو . پريکړه مو وکړه چې لاندې له ختينو کورونو ، له ژورو څخه بايد زمور د کار خلك ټول پاس مانۍ ته راجګ کړای شي ، او پاتې نور کسان يې زمور هيڅ په کار نه دي . هغوی به له پاسه په تيږو ولو او ژوند به يې ورختمو . تيزې دا دی شته دي . د مانۍ پر بام ګاونډيانو کوټه تيزې راته ايښې دي او ويل يې چې که مو نورې ډبرې په کار شوې هم يې درخيژوو ، د تيږو چې هيڅ فکر ونه کړئ .

لومړی مو د راخيژولو لړۍ پيل کړه . هغوی ته مو چيغې شروع کړې . غږونه مو چا نه اوريدل . چيغې مو نورې هم جګې کړې . بيا هم چا نه اوريدلې . مور له ورايه ليدل چې خلك ګرځي . ډير کوچنې کوچنې راته ښکاريدل . يو نيم به لږه شيبه تم شو ، خو لکه چې زمور خواته يې هيڅ پام نه وي . لکه زمور دغومره لوړه او ښکلې مانۍ چې ورته هيڅ ښکاري نه . لکه چې زمور د ګاونډې خواري ورته هيڅ خواري نه وي ښکاره شوې . لکه چې دوی بيخې کانه وي . زمور دغه چيغې چې تر اسمانه رسيدای شي ، دوی يې څنګه نه اوري ؟

مور چې په چيغو ستړي شوو ، نو يوبل فکر مو وکړ . مور ويل راځئ په پرو کې يې تر مانۍ راجګ کړو . دا کار مور ته اسان و . ګاونډيانو پرې او رسۍ هم راته پرې ايښي وو ، خو د هر پرې په سر پورې يوه اوسپنه هم ځورنده وه . مور هيڅ نه پوهيدو چې دغه اوسپنه د څه لپاره ده ؟ خو مور ويل هغوی هوسيار خلك دي ، په دې کې به هم څه حکمت وي .

پرې او رسۍ مو سره غوټه کړل . زمور نظر دا و چې د خپل کار

خلك به په کې راپورته کړو او که چيرې داسې کوم څوك هم په رسۍ پورې نښتی و ، چې زمونږ نه و په کار نو له مانۍ بيرته ورګوزارول به يې زمونږ لپاره دوه ګټې ولري ؛ يو خو دا چې خپله به له مينځه لاړ شي او بله دا چې لاندې به يو بل هم ورسره له مينځه يوسي .

په خپله خوښه څوك نه راختل ، خو عجيبه اوسپنه وه . همغه چې د رسيو او پړيو په سرونو پورې تړل شوې وه . هغه چې به هر چا پورې ولګيده ، نو د ځان خواته به يې راکش کړ . ګاونډيانو مو عجيبه اوسپنه جوړه کړې يا پيدا کړې وه. بې شميره رسۍ او پړې له مانۍ څخه ځړند شوې وو . مونږ دغه پړې راکشول.

اوس د مانۍ په اوچتوالي پوه شولو . ډير يې ستړي کړلو . مونږ چې لومړۍ پيره مانۍ ته راجګه کړه ، ټول يې مړه وو . عجيبه وه زمونږ له پړيو زندۍ ورته جوړې شوې وې او يا يې خپله ځانله زندۍ تړې جوړې کړې وې . مونږ له ډيره قهره هغه ټول لاندې ورګوزار کړل . بيا مو رسۍ او پړې له مانۍ ښکته کړل . دا ځل يې نو لا ډير ستړي کړو . څو ځله مو دمه په کې وکړه او بيا هم چې هغه خلك مونږ د مانۍ سرته راوخيژول ، ټول مړه وو . مونږ څو ځله دا کار وکړ او په هر ځل به مو مړې د مانۍ سرته راخيژول . دې کار مونږ ستړي کولو ، خو اوس مو تړې يو ډول خوند هم اخيست . مونږ ته اوس د مړو راخيژولو او بيرته له مانۍ ورګوزارولو عجب خوند راکاوه ، خو ستړيايې ډيره زياته وه . زمونږ متې هم اوس عادي شوې وې ، يو څه له پخوا پنډې شوې هم وې .

يوه ورځ زمونږ د ګاونډي له کوره ګڼ شمير متور مانۍ ته راغلل . نوې رسۍ او پړې ورسره وو . مونږ ډير ستړي شوي وو . هغوی د پړيو او رسيو په کشولو کې له مونږه هم تکړه وو . عجيبه وه هغوی چې به خپل پړې ځړند کړل ، نو په يوه پړې کې به يې څو تنه په يوځل د مانۍ بام ته راپورته کړل . ټول به زندۍ شوي او مړه شوي وو .

اوس نو زمونږ يوازينۍ لوبه همدا وه . يوازينی کار مو همدا و . مونږ خوښتل چې اوس نو د خپلی مانۍ دهشت او عظمت هر چاته ورځرګند کړو او دا کار يې له وړې او مرګه ناممکن و . په خپله خوښه څوك راختل نه او مونږ چې به راخيژول نو مرګی ورسره ملګری و . مقصد چې راجګ شوې وای ، مړه يا

PROPERTY OF ACKU 3977

ژوندي ، زمونږ خو هسې هم مړه په کار وو .

دومره مرګونو مونږ په یو بل څه هم اخته کړو . څه موده وروسته مونږ په خپلو کې هم سره وژل پیل کړل . او دغه وژل ورو ورو زیاتیدل . اوس که به مونږ دري برخې هغه کسان له مانۍ ورغورځول چې په رسیو کې به مو مړه راجګ کړي وو نو څلورمه برخه به یې زمونږ خپله وه . دا وژل د مانۍ ساري رنګ و ، د ګاونډیانو متورو ځوانانو به ویل چې زمونږ پر پرو او رسیو پورې د نښتې اوسپنې همدغه خاصیت دی ، مونږ چې هر چیرې دغه اوسپنه لیږلې یا مو له ځانه سره وړې ده ، همداسې څه ساري رنګ هم ورسره را پیدا شوی ، او داسې خو مونږ د هغې کوچنۍ اوسپنې په یوه بل حکمت خبر شولو .

مونږ له مانۍ لاندې څېنو کورونو او ژورو ته کتل . اوس مونږ په مانۍ کې هم تنګیدلو ، لاندې د ورکوزیدلو ټولې لارې مو هم بندې کړې وې . لاندې مو هم ځای نه و . مونږ پوهیدو چې لاندې به د مانۍ په باب او د مانۍ د استوګنو په باب څه فکر کیږي ، خو زمونږ لپاره یوازینۍ لاره همدا وه چې د پرې او رسیو راکشول تُند کړو او په خپلو کې وژل هم زیات کړو . مونږ غوښتل لاندې ورګوزاریدونکې تحفې له یوې ورځې څخه بلې ته ورزیاتې شي .

یوه ورځ په مانۍ کې یو ناڅاپه ګڼه ګونه شوه . چا ویل زلزله ده . چا ویل څه بله خبره ده . له لاندې هم شور راته . مونږ د لومړي ځل لپاره هغه شور هم واورید . لکه په یوه شیبه کې چې د نړۍ ټول ګونګیان په خبرو راغلي وي . په مانۍ کې هرچا یوې او بلې خواته منډې وهلې . د هرچا پر خوله فریاد و . هیڅوک لا نه پوهیدل چې څه خبره ده ؟ مونږ ولیدل چې د ګاونډیانو په کورونو کې هم ټولې مانۍ نړیدلې وې . هرچا تعجب کاوه . هرچا چیغې وهلې . له لاندې هم فریادونه دومره اوچتیدل چې نژدې وو مونږ ټول کانه کړي .

مانۍ ولړزیدله ... دا دی همداسې لړزیږي ... مانۍ په نړیدو شوه ... دا دی نړیږي ... له لاندې ټول ورته اړم شوي دي ، لکه بیخي له کاغذونو چې جوړه شوې وي . دا خو نړیږي ... مونږ څومره غولیدلي وو ... دا دی نړیږي ... دا دی ... نړ ... ې دا دی ...

پیښور

۱۳۷۱ / ٦ / ۳۱

Leaves Of Our Village

A Collection of Short Stories

By:

Zarin Anzor

Publisher:

Nahid Book Publishers

Series No: 4-